




د ګوندانۀ ناري دي
کوټکې نۀ شي
اکبر مهجور بېټنے
خیر دے، لۀ خوبه مې دې تل پاڅوي
د ګوندانۀ نارې دې کوټکې نۀ شي
د ګوندانۀ ناري دي کوټکې نه شي
اکبر مهجور بېټنے
ګران مهجور بېټنے صېب زمونږ په هغو زلمو شاعرانو کښې حسابېږي، څوک چې تر خپله وسه خپل پوره کوشش کوي، چې معاصر سماجي، سیاسي، تهذیبي صورتحال په څۀ نا څۀ حواله او سطح ضرور د خپل لیک او تخلیق برخه وګرځوي. په دې تخلیقي، تهذیبي معامله بندی کښې ګران مهجور که په غزل کښې یو خوا خپل جذبه او احساس په خپل اوریجنل انداز سره کاروي، نو بل خوا د خیال بندی په حواله تر خپله حده د فکر او تخیّل نه هم مناسب کار اخلي.
د نظر لاندې شاعرۍ کښې صورتحال ته په جذباتي توګه حساس یعنې ژوندون راوستونکي او فکري توګه فعال یعنې بدلون راوستونکي نظر کتلي شوي دي. شاعر د روانو حالاتو او معاملاتو نه بېخي نۀ دے مطمئین، بلکې د یو مستقل اضطراب سره مخ دے. د دۀ د شاعرۍ د مندرجاتو نه څرګند محسوسېږي چې موصوف په ډېر شدت او حدت سره غواړي، چې د ژوند او ټولنې په دې ناګواره ناک نقشه کښې دے بنیادي بدلون راوستلے شي. د دې دپاره شاعر په شعوري سطح کله کله د تند و تېز مضمون بندۍ ماحول هم ساز کړي. د جذباتي او فکري غوښتنې د دغه شدت او حدت عنصر دے، چې د موضوع سره سره ئې د مهجور لهجه هم په خپل رنګ کښې رنګولې ده. حقه خبره دا ده، چې د لهجې او انداز هم دغه رنګ ډنګ زمونږ د شاعر د غزل بنیادي شناخت هم ګرځي.
د احترام په اساس
جاوېد احساس
اکرم خان دراني کالج بنو

خبر دے له خوبه مې دې تل پاڅوي
د ژوندانۀ نارې دې ګونګې نۀ شي

# د ژوندانۀ نارې دې ګونګې نۀ شي

## اکبر مهجور بيټنے

ټول حقونه زما خپل دي

"د پي ډي ايف جوړوونکو ملګرو څخه ډېر په عاجزۍ سره خواست دے، چې بغېر د ليکوال د اجازته دې ددې کار نه ډډه وکړي .ځکه چې دا هم په امانت کښې د خيانت په معنا دے".

د کتاب نوم : د ژوندانۀ نارې دې ګونګې نۀ شي
ليکوال : اکبر مهجور بېټنے
درک : رتنزئ بېټني( لکي مروت)
رابطه نمبر0346-3418852 / 0336-8623048
کمپوزنګ : ارشاد خان (پښتو اکېډيمي پېښور)
پښتيې : زاهد امين
پروف کتونکے : ډاکټر نورمحمد دانش بېټنے
اول چاپ : ۲۰۲۰
شمېر : ۵۰۰
بيعه : يو نيم سل کالدارې
**د موندلو درک:**
- ✓ نور اسلم اسلم اليکټرک ورکس تجوړي0345-9794054
- ✓ محبوب شاه بېټنے ټانک0303-3186386
- ✓ د ګړدو پښتنو په زړونو، لاسونو، کورونو او دکانونو کښې

# تړون

د اروانباد **منتظر بېټني** صيب په نوم

د چا په برکت چې

د پښتو ادب

شمله هسکه

ولاړه

ده.

اکبر مهجور بېټنی

# د مهجور
# د شاعرۍ فکري او فني انځور

زهٔ چې د چا د شاعرۍ جاج اخلم، نو د شاعر یو یو شعر یا یو یو غزل پسې نهٔ ځم، ځکه چې دا په بېلو بېلو اوقاتو او بېلو بېلو حالاتو کښې لیکلے شوے وي .او ښکاره خبره ده، چې د انسان حالات، کېفیات، جذبات او محسوسات په مختلفو وختو کښې یو شان نهٔ وي .نو د یو شعر یا یو غزل نه د ژوند او ګردوپېش په حواله د شاعر د سوچ او فکر د سمت صحیح اندازه نهٔ شو لګولے .د یو شاعر د فکري رحجان، مېلان، لوړتیا او پرمختګ اندازه مونږ د شاعر اجتماعي تخلیقاتو په تناظر کښې کوو او په هغه کښې مشترک قدرونه او رنګونه لټوو او بیا د هغو په رڼا کښې د شاعر د طبعي شکل و صورت او رنګ و نسل نه پرته یو فکري تصویر تشکیلولو سعي کوو .باید مونږ د یو شاعر خیالات، احساسات او تخلیقات په بېلا بېلو دایرو او خانو کښې د تقسیمولو او وېشلو نه ډډه وکړو .په داسې حال کښې البته یو نقاد دې ته ضرور ګوري، چې په مختلفو وختونو کښې تخلیق شویو فنپارو کښې څهٔ داسې شدید تضاد خو نشته، چې د شاعر د

فکر مجموعي انځورسازۍ په عمل کښې د نقاد د لارې خنډ جوړېږي.

د چا د شاعرۍ جاج اخستو په دوران کښې زۀ دې ته هم په خاصه توګه ګورم چې د شاعر فکري بلوغت، د شعور پختګي او د سوچ د لوړتيا کچه څومره ده .د دې هر څۀ مطلب دا دے، چې زمونږ شاعر په خپل چاپېريال کښې موجود " حسن " او "بدرنګۍ" ته په کوم نظر ګوري .د دۀ دا نظر څومره نوے، جديد ، منفرد او حقيقت ته نزدې دے؟ د ژوند د رنګونو او ستونزو په حواله د دۀ ترجيحات څۀ او څنګه دي؟ آيا دۀ ته د منظر تر شاه د پس منظر احساس او ادراک شته؟ آيا زمونږ شاعر د ژوند په دې هنګامه کښې د مخمسې، تردّد او کنفيوژن ښکار دے .که له دې مرحلې نه په خېر و عافيت تېر شوے او په ذهني توګه کليئر او فېصله کن حېثيت ته رسېدلے دے.

په دريم نمبر نقاد فني ښکلا ، نزاکت، د ژبې او لفظونو ېخي درست استعمال او د پېشکش انداز ته ګوري ـ يعنې د شاعر خيال او الفاظ يو بل سره څومره غاړه غړۍ دي .دا هم يو حقيقت دے چې " فن "کښې د غلطۍ ګنجايش ېخي نۀ وي . يا به دا اووايو چې " فن " د هغه صلاحيت او اظهار نوم دے چې هيڅ غلطي، کوتاهي، خامي او بد ترتيبي نۀ مني .د فن په حواله دا خبره ډېره مهمه ده چې د تخليق کار په فن او فکر

کښې توازن پکار وي .يعنې داسې نۀ چې فکر زورور، جديد او منفرد وي .خو فني جامه ئې کمزورې، روايتي او عاميانه وي .دا رنګه که يو تخليق په فني توګه آراسته پېراسته وي . يعنې ښه لفاظي او ګلکاري لري . خو فکري اړخ ئې تش تور، کمزورے او مبتلے وي .بايد چې لفظ او معنا يا فن او فکر دواړه د تخليق کار پېغام کښې شاعرانه زور پېدا کړي او د شاعر تخليقي مدعا ته سپورټ او تقويت ور کړي.

اوس به مونږ دغو درې څلورو پېمانو يا پېراميټرز په بنياد د ښاغلي مهجور د شاعرۍ جاج او جائزه اخلو او د دۀ د تخليق د معيار تعيّن کولو کوشش به کوو .

زموږ شاعر د خپلې مجموعې ابتدا د حمد او نعت نه کوي او د کتاب په اغاز کښې د حمد و نعت ليکلو روايت برقرار ساتي .دې سره د خپل پاک دين سره د دۀ د مينې، عقيدت او وابستګۍ څرګندونه کېږي .چې زۀ ورته په ډېره درنه سترګه ګورم .په مطلع کښې دے د يو همدرد زړۀ غوښتلو سره سره د الله پاک د قرب حصول دپاره د " درد "د ټکي استعمال کوي چې بې حده وسيع مفهوم او معنې لري او زما په خيال هم دغه د مينې او درد واحده لاره ده چې د لوے څښتن مينه او قرب پرې حاصلېدے شي .دا ټول حمد شريف دعائيه انداز سره سره يو چشم کشا پېغام لري.

په دې حمد پسې بل حمد مخې ته راځي او دا هم دعائيه انداز لري .دا حمد هم په تول پوره، رسا فکر او خوږه ژبه لري
په دريم نمبر نعت شريف دے او زۀ په خاصه توګه دې ته په هر کتاب کښې متوجه يم چې يو شاعر نعت څنګه ليکي .ځکه چې زما په خيال دا ډېر ګران کار دے .او دا کتل غواړي چې د دواړو جهانونو د سردار د صفت او ستائنې حق تر کومه ادا شوے دے .زمونږ د شاعر زېر نظر نعت د دۀ يو ښۀ کوشش دے .چې د روايتي نعتونو نه د فکر او احساس په حواله يو قدم وړاندې دے .زۀ تل دا خبره کوم چې په پښتو ادب کښې نعتيه ادب هغه هومره وده نۀ ده کړې .څومره ئې چې په اردو يا نورو ژبو کښې کړې ده .د دې وجه زمونږ تساهل پسندي، په دې حواله زمونږ د مطالعې کمي او د دنيا و مافيها دې عظيم ترين هستۍ ته زموږ عاميانه او ملايانه اپروچ دے .مونږ د خپل برحق او ريښتوني پېغمبر د ژوند، کردار او روز و شب په حقله ژور سوچ نۀ دے کړے .نۀ مونږ څۀ زده کړي، نۀ مونږ ته ښودلي شوي دي.
په دې نعت کښې د شاعر لخوا د پېغمبر د نوم راوړل او هغه نوم ته براه راست مخاطبه زما خاطر درنوي .اګر چې د دې مثالونه شته .خو زۀ په ذاتي توګه دې پاک نوم ته نېغ په نېغه مخاطبه خو پرېږده، د دې نوم د اخستلو همت او جرأت نۀ شم

کولې .البته په خپل نعتيه کلامونو کښې د دې لوے نوم ليکلو او اخستلو ته د خپل توان را جمع کولو هسه ضرور کوم.

زدکوم ژبه لـه مـودو نـه سـتا د شـان لايقـه
اوس دې د نـوم د اخسـتلو تيـاري کومـه

د مهجور صبب د نعتيه سوچ په حواله او بهانـه مـا د نعت پـه حقله دا يو څو خبرې کول غوښتل .اوس نېغ د خپـل شـاعر د شاعرۍ په خوره وره دنيـا کښـې د شـاعر د ذات لټولـو او د دۀ فکري محرکاتو ته د رسېدو سعي کوو .

زما په خيال اکبر مهجور د خپـل چاپېريـال لـه وړو وړو او پـه ظاهره غېر اهم څيزونو، واقعو او تجربو نه الهام اخلي او بيـا هغو وړو وړو وقوعو او تجربو ته د خپل تخيل په زور افاقيت ورکوي .او د زمان و مکان له قېد ئې ازادوي .

زما خيال دے چې زمونږ مهجور د لرې پـه ځـاے پـه خپـل ډېر نزدې چاپېرچل نظر لري او د خپل خداداد فن او فکر په زور د معنو او مطالبو خواږۀ او عرق رااوباسي او په عـام اولـس ئې وېشي .تاسو وګورئ په يو شعر کښې د خپل کور څنګه په زړۀ پورې نقشه جوړوي او خپلې خبرې ته څنګه په هنر فني ښکلا ورکوي.

کـور مې دے فـراخ خـو دے شـډل مېـدان
دا خـو مې د زوے پـه ژړا ښـکلے دے

زمونږ شاعر دلته ځومره په شاعرانه کمال د حسن تضاد مظاهره کوي او " ژړا "او " ښکلا "يو بل ته دومره نږدې کوي چې سړے ورته حېران پاته شي.

په کار روزګار پسې خپل کور نه لرې توب، سفر او مسافرت زمونږ د شاعر هغه ستونزه ده چې د دۀ په شاعرانه فکر او احساس خوره وره ده .يقيناً چې " مسافري بده بلا "وي او يو حساس سړي دپاره خو دا" بلا "نوره هم تکليف ده او خوفناکه وي .مهجور صېب په دې شعري مجموعه کښې وخت په وخت او ځاے په ځاے د مسافرۍ په نتيجه کښې د دۀ په زړۀ او ذهن کښې راپېدا شويو کېفياتو اظهار په بېلا بېلو او نوؤ پېرايو کښې کوي .

ډالر، درهم او په دينار پسې ورک شوے يمه
مزدور سړے يمه په کار پسې ورک شوے يمه

خو له خپل کلي کور نه وتو يا زمونږ د شاعر په قول"ورکېدو " پسې شاه ته د رزق او غربت مسئله وي .او زمونږ په وطن کښې زمونږ د پسماندګۍ او غربت ذمه واران څوک دي؟ دغه زمونږ بنيادي او اساسي مسئله ده .بايد چې يو شاعر( چې د قام سترګې او لاربنود وي) د دې شخړې صحيح ادراک ولري . د روان روايتي او موروثي سياست د ناوړې لوبې فريق نۀ شي جوړ .د افرادو په ځاے د خپلې خاورې او د خاورې مفاد په نظر کښې ولري .د ستونزې تر شاه ستونزه معلومه کړي .د ناره

بازۍ ښکار نۀ شي .د ذاتي ګټو وټو پرواه و نۀ کړي او قامي مفاد ته ترجيح ورکړي .او په دې حواله د اولس سترګې خلاصې کړي .

زمونږ شاعر د خپلې خاورې سره د کلکې او پخې وابستګۍ خپله ذمه واري په شدت سره محسوسوي .د مسئلې علم او ادراک لري .د خپلې خاورې د بې کچه زياتو شخړو، ستونزو او ناورينونو ذمه وار د پېړيو پېړيو راسې زمونږ په زړونو او ذهنونو قابض " جهالت " ګڼي .د جهالت دا ترورږمي او تيارې په" رڼا "بدلول د دۀ د فکر بنيادي نکته ده .چې د دۀ ټوله شاعري ترېنه ګرځي را ګرځي.د تيارو او جهالت په دې بلا د دۀ د ګوزارونو انداز د کتو دے.

د رڼا طرفداري کوو مهجوره!
لالټېنونه او ډيوې خرڅوو ښار کښې

مونږ غربت يو تر دې حال رارسولي
د خپل يار د لاس تحفې خرڅوو ښار کښې

بې تعليمه يو خو بې شعوره نۀ يو
کتابونه او بستې خرڅوو ښار کښې

يا دا

تیارو کښې پټو بلاګانو ورته خولې وازې کړې
یو کس راغلے دے، ډیوې او لالټېنونه وېشي

د جهالت په تروږمیو مې نور نۀ شي پېرزو
د قام بچیو ته رڼا له خدایه غواړمه زۀ

دا او دا رنګه نور ډېر شعرونه زمونږ د شاعر د هغې مبارزې نشاندهي کوي .چې د دۀ په اندرون کښې د جهالت د تیارو او د هغې په نتیجه کښې د راپېدا شویو بلها ډېرو کشالو پر ضد روانه او دوانه ده.

د ستائنې وړ خبره دا ده چې د تیارو او جهالت موجود، مسلط او د دۀ په مقابل ولاړ دې" دېوتا "خلاف د دۀ اشتعال د ادب له دائرې نه یوه ذره هم بهر نۀ وځي .د لفظونو استعمال او انتخاب په احتیاط سره کوي .او د هغه" منصب "په لمنه او تقدس داغ نۀ لګوي .کوم چې د دۀ د ژوند سرمایه او دے ئې امین او محافظ دے .او هغه د" ادب "منصب دے .چې دۀ ته ئې د" حرمت "غرق احساس دے.

زمونږ شاعر په دې حقیقت هم پوے دے چې د قلم جهاد په یوازې سر د افرادو خلاف نۀ بلکې د رویو خلاف کېږي .زمونږ اکثر شاعران په داسې حال کښې د خپل تنقید او دشنام هدف په سماج کښې موجود هغه افراد او کردارونه ګرځوي .چې د ماضي د منفي رویو برخه او تسلسل وي .او دغسې خپل

پېغام محدود او د يو خاص وخت پابند کړي .خو زمونږ شاعر داسې غلطي نهٔ کوي .خپل پېغام او بيانيه د زمان و مکان له قېد نه ازاده ساتي .او د راتلونکيو نسلونو د استفادې دپاره د خپل فکر ډيوې بلې او روښانه پرېږدوي.

د مهجور صېب د شاعرۍ يو مهم او جوت اړخ او رنګ د دهٔ جدت طرازي ده .دا د شعر و شاعرۍ هغه زړهٔ راښکونکے او دلکش وصف او صورت وي چې د شاعرۍ په فن او فکر پوهه خلقو توجه خپل ځان ته را اړوي .په شاعرۍ کښې د جدت موضوع تر څهٔ حده متنازعه ده .ځکه چې نقادان دې ته په بېل بېل نظر ګوري .او په دې حواله جدا جدا رايې او نظر لري .زما په خيال چې يو شاعر له روايتي، مافوق الفطري او جوړو تيارو پېرايو او بيانيو نه مخ په وړاندې د وتو قوت، صلاحيت، جرأت او حقيقت يا reality ته د نزدې کېدو توان او استعداد لري .نو مونږ له داسې شاعر نه د جديدې شاعرۍ هيله او توقع لرلے شو .جدت په اصل کښې د شاعر د داخل نه راوتلے د" بالغ "سوچ او" رسا "فکر هغه رښتونے لفظي اظهار وي، چې د شاعر د مرام، مقام او معيار تعين کوي .دا د شاعر د ژوند او چاپېريال د واقعاتو او وارداتو په حواله هغه نوے او ځانګړے "نظر " وي، چې د دهٔ د تخليقي قوت نه راټوکېږي .او شاعر ته د انفراديت سبب جوړېږي .په عمومي توګه مونږ د" جدت "درې قسمونه پېژندلے شو .

اولنۍ فکري جدت دے، چې د ټولو نه مهم او د وخت او زمانې له قېد او ګرفت نه تقریباً آزاد وي .د دې مطلب دا دے چې" جدت "نۀ خو په روان نوي دور خرڅ دے .او نۀ ادب ته د دې عهد ورکړه ده .مونږ ته په زرګونو کاله مخکښې د یونان شپنې شاعرې" بلائي ټس "په شاعرۍ کښې د لوړې کچې جدت په نظر راځي .په سوونو کاله مخکښې د خوشحال بابا شاعري هم د فکري جدت یوه بهترینه نمونه ښکاري.
ما خو یو ځل په دې تناظر کښې دا دعوه ډېره پخوا کړې او لرلې ده .

دلته هم ژبې وهي اور د دوزخ
دلته هم زېري د جنت راځي
زۀ چې په شاه ځمه صدۍ په صدۍ
زما په فکر کښې جدت راځي

یا دا چې

دا دے د حلیو، که د جامو او که بدلون د سوچ
څۀ نا څۀ تعریف خو بارې هم دے د جدت پکار

د جدت دویم قسم مونږ ته د طرز اظهار، انداز بیان، وړاندیز یا پېشکش په صورت کښې په نظر راځي .په دې حواله نقاد دا ګوري چې شاعر یو زوړ، مستعمل یا روایتي خیال په څومره نوي انداز کښې د وړاندیز صلاحیت لري .ګویا په هغه خیال کښې څومره حرکت، ساه او لفظونو کښې څومره ژوند

اچولے شي .نن سبا دا قسم جدت عام دے او د نن دور مقبول شاعران له دي تکنیک نه استفاده کوي.
د جدت دریم شکل" لفظي "وي .یعنې دا چې وخت تیرېدو سره سره ژبه بدلیږي .د نورو ژبو الفاظ، ترکیبونه او نومونه د ژبې برخه جوړیږي .او بیا لامحاله د دې ځیزونو اغیز او اثرات زمونږ په شاعرۍ کښې څرګندیږي .اګر چې ټول ادب او په خاصه توګه شاعري د ښځي خالصې او سوچه ژبې د استعمال تقاضه کوي او هغه شاعري غوره او درنه ګڼلے شي چې لب و لهجه ئې پسته او ژبه ئې سوچه وي .خو شاید په نننی دور کښې د پردیو ژبو د ټکو، نومونو او ترکیبونو نه خلاصون ګران دے .خو باید مونږ ډیر په خیال او احتیاط سره دا ځیزونه وکاروو او د شعر و شاعرۍ نازک مزاج په نظر کښې وساتو .د جدت په شوق کښې د غیرو ژبو د تورو بې دریغه استعمال زمونږ شاعرۍ ته په ځاے د فائدې د تاوان سبب جوړیدے شي .یاد ساتل پکار دي چې تش تور لفظي جدت راوړل څۀ ډیر وقعت او اهمیت نۀ لري .دې سره سره دا نشاندهي کول هم لازم ګڼم چې ځینې خلق په شعوري توګه د جدت د مظاهرې او نمائش په شوق کښې په شاعرۍ کښې د اشکال او مشکل پسندۍ نه کار اخلي .دا ښځي نامناسبه رویه وي .زما په خیال اسانه، روانه او د معنو نه ډکه شاعري پخپله د جدت یوه نمونه وي .البته د ځینو شاعرانو تخلیقي ستایل

او فطري طرز اظهار داسې وي چې عام لوستونکے ئې دستي مطلب نۀ شي رانيوے .نو داسې شاعرئ ته د اعتراض ګوته نيول هم نامناسبه او ناجايزه خبره وي.
د دې خبرو خلاصه دا ده چې په نوي او منفرد انداز کښې بېخي نوې خبره کول اصلي جدت وي .او په نوې پېرايه کښې يوه روايتي خبره راوړل هم جدت وي .خو د دې قاعدې او قانون پابندي کول لازم وي چې مونږ مسلماتو يا univarsal truths نه سرغړونه و نۀ کړو .د جدت په موضوع د خپلې خبرې د طوالت بخښنه غواړم .خو دا موضوع تر څۀ حده پېچيده او لکه څنګه چې ما په شروع کښې عرض کړې ده، متنازعه هم ده .ما تر خپله وسه د خپلې نيمګړې پوهې مطابق د ښاغلي مهجور په شاعرئ د دې اطلاق او انطباق سره سره د عمومي استفادې دپاره دا څو خبرې ضروري کول غوښتل .
اګر چې د شعري جدت نور اړخونه او جهتونه هم شته .خو دلته زما بنيادي وظيفه او مېنډېټ د مهجور د شاعرئ څېړنه او پلټنه ده .نو ځکه زۀ په دې حواله له اضافي خبرو او ليک نه ډډه کوم .او په دې ترازو د دۀ د شاعرئ جاج اخستلو او تللو کوشش کوم .اوس ځو چې د خپل شاعر په شاعرئ کښې د جدت رنګونه و لټوو.

ډالر، درهم او په دينار پسې ورک شوے يمه
مزدور سړے يمه، په کار پسې ورک شوے يمه

تـهٔ خپـل مهجـور وريـادوه کنـه قربـان دې شـمه
که په منصور راشي، کـه دار بانـدې خبـره راشـي

تقسـيم باندې بـه ولـې د خـدا ے نـهٔ يمـه حېـران
پښــتو ئــې رالــه راکړلــه، اوړهٔ نــهٔ راکــوي

د جمعـې شـپه ده او دعـا لـه خدايـه غـوارمـه زهٔ
تـهٔ دې خبـره ئـې چـې تـا لـه خدايـه غـوارمـه زهٔ

زمـونږ د شـاعر د جـدت دا انـداز هـم د کتـو وړ دے
تـهٔ چـې تلـے ئـې څـهٔ داسـې کېفيـت دے
راتيـتې شـوے زمـا دوه ګـوتـې قامـت دے

وخــت لــرم خــو کرايــه راســره نشــته
تــل مــې کــړے هــر محفـل نـه معـذرت دے

ورور مې خوشحال دے چې کرنال زمکه ئې زياتـه يـووړه
او زهٔ خوشـحال يـم چـې حجـره مـې پـه حصـه راغلـې

زهٔ پـه خپـل کـور کښـې د بابـا خدمـت تـه پاتـې شـومه
تبليـغ تـه لاړ دے ورور مـې ډېـرې نېکـۍ و ګټلـې

تـهٔ پـرې ټـوپـک اخلـې او زهٔ پـرې چـاپ کـومـه کتـاب
تــا پــه رشــوت ګټلــې، مــا پــه دیــاړۍ وګټلــې

تـهٔ بـه تـر څـو شـوکـوې سر، بانـه کـوې بـه پـېریـان
زهٔ بـه تـر څـو کـومـه لـوبـې د ګرېوانـه سـره

تـهٔ مې چې اوبائللې نوم مې د مهجـور مونـدهٔ کـهٔ
رښـتـیـا چـې ګـټـه وي تـړلـې د تـاوانـه سـره

تاسو ګورئ چې زمـونږ شـاعر څـومره پـه زړهٔ راښـکونکي او جدید انداز کښې د سماجي ژونـد مهمو مسئلو او د اولـس د اجتماعي سوچ د سطحې او کچې نشـاندهي کـوي .د مهجـور صيب د شاعرۍ د مطالعې نه مونږ ته د دهٔ د فکري بلوغـت، د شعور د پختګۍ او د سوچ د لوړتيا سره سره د دهٔ د ترجيحاتو د درستګۍ اندازه لګي.

د دهٔ کمال دا دے چې بغېر د څهٔ باقاعده استاد او پـه ادبي او شعري غونډو کښې بغېر د شرکت ئې دا هر څهٔ د خپل ذهانت، فطانت او ادراک پـه زور زده کـړي دي .د دې دا مطلب نـهٔ د ے چـې ګـنـي دهٔ د اسـتـاد يـا پـه ادبي نشسـتـونـو کـښې د ناسـتې پاستې ضـرورت نـهٔ د ے محسـوس کـړے .داسې ښېخي نـهٔ ده . مهجور صيب دا ضرورت په شدت سـره محسـوس کـړے د ے . او اوس ئې هم محسـوسوي .څو حالاتـو يعنې هغـو حـالاتو چې

د ے ئې قدم په قدم ژړولے او د دې بازګشت د دۀ د شعري دنيا په طول و عرض کښې خور وور د ے .زمونږ شاعر ئې دې تـه د سره پريښے نۀ د ے چې د چا استاد نه د استفادې دپاره يا پـه ادبي او تنقيدي نشستونو کښې د ناستې دپاره وخت اوباسي. پـه داسې حال کښې د دۀ د ادبي، فکري او ذهني ارتقا ټول کريډېټ credit د دۀ خواري، محنت او ذوق و شوق ته ځي. زمونږ د شاعر د شاعرۍ بې حده مثبتـه اړخ دا د ے .چې د ے مايوس نۀ د ے او بل دا چې د همه جهتۍ او همه ګېريت صفتونه لري يعنې د جانان سره سره د دوران غم نه غافل نۀ د ے .بلکې د دۀ په تخليق کښې د غم دوران تله زياته درنـه ښکاري خو لکـه د ډېر پوهه شاعر ئې د شعر و شاعرۍ دا دواړه اړخونه اوږه په اوږه پاللي او مخ په وړاندې بوتلي دي .بلکې دا دواړه ئې يو بل کښې مدغم کړي او د جديدې شاعرۍ معيار تـه رسولي دي.د مهجور صيب په شاعرۍ کښې د باذوقه قاري دپاره هغه ډېر څۀ موجود دي چې د سړي تنده پرې ماتېږي.نور بايد زۀ د دې شاعرۍ او د لوستونکي تـر مېنځ حايـل نۀ شم .د خپـل شاعر د نـور زيات پرمختګ په هيله او دعا

په پښتنه مينه او درنښت
نادر خان عليل( لکي مروت)
۲۳-۰۳-۲۰۲۰

# زما د سترې زندګۍ ارمانه! ښه ونيسه

ښاغلے اکبر مهجور چې پوره نوم ئې اکبرجان دے او په ادبي دنيا کښې د مهجور بېتني په نامه پېژندل کېږي، د موضع رتنزو غرونو په لمنه کښې د محترم ګل مرجان په کالۀ کښې په ۱۹۸۱-۰۲-۱۲ کښې سترګې وغړولې .د ايف ايس سي پاس کولو نه پس په بلوچستان کښې د مېډيکل اسسټنټ په عهده وګمارل شو(چې بيا ئې وروستو بي اے هم په پرايويټ توګه وکړه) او تر نن ورځې په همدغه عهده کار کوي.

ښاغلے مهجور يو تکړه او باهمته ځوان دے -په يو حال کښې هم خپله حوصله نۀ بائيلي -لکه چې پخپله وائي

وختهٔ! که پښې دې راله ماتې کړې، خاپوړې به کړم
د يار تر دره په طاقت به د لاسونو ځــــمـــــه

په نظم او نثر ئې يو شان لاس بر دے - خو په غزل کښې خو ئې بېخي نوے والے( جدت) دے .او روزانه نوې نوې تجربې پکښې کوي .غزل سره سره نظم هم ښۀ ښکلے او په زړۀ پورې ليکي او کله کله لنډې کيسې( افسانې) هم ليکي.

مهجور صيب ته که مونږه بسيارنويس شاعر اووايو، نو بېځايه به نۀ وي .سپين صفا او د يوې کيسې سړے دے - ډېرې چيګې ټيټې ئې نۀ دي زده، چې څۀ ئې په زړۀ وي، هغه

ئې په خولهٔ وي .د دې ښاغلي په صورت او سيرت يو کتاب ليکلے کېدے شي - په دومره مختصر ليک کښې د هغهٔ احاطه کول مشکل دي .نو د اختصار په وجه لږ د هغهٔ فن او شاعري هم په نظر کښې ساتو.

د ښاغلي مهجور شاعري خوږه، پسته او روانه ده - دا لاندېني شعرونه ئې وګورئ.

زما د سترې زندګۍ ارمانه! ښه ونيسه
يوه ګيله درته کوم جانانه! ښه ونيسه

د زړهٔ په باغ کښې مې يو بوټے درنه شين پاتې شو
دا هم تالا کړه اے سپېره خزانه! ښه ونيسه

ښاغلے مهجور فطرتي شاعر دے، په حسن مئين دے او حسينان ئې خوښ دي.

ما ليدلے چرته نهٔ دے داسې بل مخ
ياره! تا سره سمبړي د کوم ګل مخ

دا په توره شپه کښې لمر په اسمان راغے
که اشنا مې راښکاره کهٔ له وربل مخ

مهجور صيب خپل محبوب بې وفا نهٔ ګڼي او نهٔ ترېنه ګيلې کوي .بلکې حقې ته حقه وائي

په يو مئين يو هم مو بل سره ياري کړې ده
مونږه مئينو همېشه بې انصافي کړې ده

مهجور صېب مينه کوي، عشق کوي .خو له تکليف او مصيبت نه ئې خلق هم خبروي.

منم چې کار دې د عشق لوے ،خو مصيبت نه ډک دے
ځکه خو ژوند د عاشقانو اذيت نه ډک دے

دا لاندېني شعرونه ئې هم د کتنې وړ دي

د هجر تور سپے چې له ورايه راته وغپېدۀ
لکه ماشوم د جانان پيڅې مې له ډار ونيولې

درې ببتهني کښې چې مهجور وربانديې لاس ايښے وۀ
هغه ظالم مې د زړۀ غوښې په انګار ونيولې

د مهجور صېب ټوله شاعري معياري او مقصدي ده .خو خپلې خبرې د طوالت له ډاره را لنډوم -الله پاک دې وکړي، چې د قلم توان ئې نور هم زيات شي.

په پښتنه او ببتهنوا له مينه

ډاکټر رحمن ګل مشکور ببتهنے
ايس ايس پښتو
ډايرېکټر ببتهبابا اکېډمي رتنزئ ببتهني لکي مروت

# ريښتونے شاعر

بلها شاعران مې وکتل او بلها شاعري مې د نظر نه تېره شوه، خو د ګوتو په شمېر مې داسې شاعران وکتل چې رښتيا وئيل خپل ميراث ګڼي او خپل فرض هم ـ ولې چې دا يو تريخ حقيقت دے چې ډېر شاعران چې څۀ وائي او چې څۀ ليکي نو کردار ئې د ليک د لارې نه جدا وي او ډېر کم شاعران خپل سوچه او سپېڅلي کېفيات په خپل ليک کښې کاروي او د ګوتو په شمار دي چې د وېنا او د کردار ئې اتفاق وي.

د تجسّس پړے مو شلوم او راځم د اکبر مهجور صېب د شاعرۍ په لور.، ويارۀ يم چې د بېټ بابا په نمسو کښې اکبر مهجور صېب يو داسې شاعر دے چې څوک ورسره يوه شېبه ملاقات وکړي نو دا دې اومني چې هغه په خپل ذات کښې د خپلې شاعرۍ يو ښکلے عکاس دے او که د هغه زيارت و نۀ کړے شي او د هغه شاعري ولولي نو د دۀ شاعري هم په خپله د مهجور صېب د سپېڅلي شخصيت عکاسي کوي .ځکه چې د مهجور صېب په شاعرۍ کښې د هغه علاقائي ثقافت، د هغه سوچه لهجه او د رښتيا وئيلو توان او جرأت لکه د نمر ښکاري .ځکه چې د مهجور صېب شاعري د هغۀ په شخصيت

داسې حاوي ده لکه د يو سوچه مسلمان په ذات باندې د هغه مذهب حاوي وي او يا پښتونولي د يو درانهٔ پښتانهٔ په ذات باندې حاوي وي.
ډېر سر مو نهٔ خوږوم خو فخر کوم او خوش بختۍ مبارکي درکوم  چې د اکبر مهجور صېب د صفا سپېڅلې او د ريښتونې شاعري کتاب ستاسو په لاس کښې دے او دعا کوم چې الله رب العزت دې د مهجور صېب دا کتاب د کلهمې نړۍ لپاره د امن او د مينې وړ وګرځوي.

په مينه

اقبال ساغر
مشر سيکرټري
دستار ادبي کاروان تاجوړي لکيمروت

# د لوړ فکر شاعر

که یو طرف ته په پښتو ادب کسکریت حمله کړې ده او ادب ته ئې بلها زیان رسولے دے .نو بل طرف ته ادب پوهانو او د معیار لیکوالانو حوصله نۀ ده بائیللې او په خلاص مټ ئې د دې ناسور دختمولو پخه او مصممّه اراده کړې ده .او د اللّٰه شکر دے، تر ډېره حده پکښې کامیاب شوي هم دي .په دې ادبي پوهانو کښې زما ډېر ګران ملګرے اکبر مهجور بېټنے هم شامل دے .چې خپله ټوله انرژي ئې د پښتو ادب دپاره استعمال کړې ده .او د ادب دپاره ئې بلها کار کړے دے .کله د( کره کتنې) په نوم او کله د مېډیا او سوشل مېډیا په واسطې سره ادبي خبرنې کړې دي .او مشران پوهه لیکوالان ئې را مېنشن کړي دي .چې د ادب سره تعلق لرونکو ته ترې ډېره فائده رسیدلې ده ..که یو خواه د مهجور بېټني صبب په ادبي هلو ځلو نظر واچوو .نو روایتي نشستونه، د مشرانو سره ناسته پاسته، په مشاعرو او نورو ادبي محفلونو کښې د شرکت نه ببخي محروم پاتې شوے دے .ځکه چې د بلوچستان په تورو غرونو کښې د ژوند شپې او ورځې سبا کوي .او که په شاعري ئې لږ نظر واچوو نو ښاغلي هر شعر،

غزل، نظم او ترانه په خپل ډېر صلاحيت سره عروج ته رسولي دي .او قاري ئې په وئيلو نه مړېږي .ښاغلے مهجور صېب زما ډېر د وړوکوالي يار دے .هر کله چې په چُتهي راشي نو زياته ناسته پاسته ئې زما سره وي .ښاغلے ډېر دروند انسان دے . چرې مې د دۀ د خولې نه داسې بېهوده لفظ يا شعر نه دے اورېدلے .مهجور صېب په خپلې شاعري کښې بلها ډېر موضوعات ځاے کړي دي .او اولس ته ئې نۀ په غرئيزه لهجه بلکې ډېر په مهارت سره په نازکه، پسته او روانه ژبه وړاندې کړي دي .د زمانې رسم و رواج، د حالاتو ستم، د کلي د مشرانو نا انصافي، په نۀ او وړه خبره د انسان وژنه، د ټوپک کلتور ډېر په ښکلي انداز بيان کړي دي .الله دې وکړي چې د اکبر مهجور بېټني صېب دا غرِ عام اولس دپاره او پښتو ادب دپاره سودمند ثابت شي .آمين!

د لېونۍ ارمان پوره شو
په لاره ځي په کاڼو ولي زيارتونه

په ډېره پښتنه مينه

نوراسلم اسلم
تجوړي( لکيمروت )
۱۷/۵/۲۰۲۰

# خپلې خبرې

زمونږ د معاشرې يوه لويه الميه دا ده چې دلته يا خو څوک چا ته نېکه او سمه مشوره نۀ ورکوي او يا خو دلته خلق دومره يربېدلي او بې باوره شوي دي، چې که يو څوک چا ته نېکه او سمه مشوره ور هم کړي، نو مخاطب ورته د شک په نظر ګوري .بله يوه اهمه مسئله دا ده چې د هر صلاحيت د پالش کولو د پاره د پېسې او د موقعې ډېر زيات ضرورت وي .او کوم خلق چې په دې تله پوره پرېنوځي، نو هغه سره د ډېرو صلاحيتونو ورک شي، چې نقصان ئې نۀ صرف هغه فرد ته ورسي، بلکې معاشره هم له يو اهم شخصيت او د هغۀ له افکارو بې برخې پاتې شي .هو بهو دغسې چل له ما سره هم وشو، چې نۀ خو مې په صحيح معنا ديني يا دنياوي زده کړې وکړې او نۀ خو په صحيح معنا شاعر شوم .ما تر اوسه پورې داسې ګڼله، چې هر څرنګه هم دربانديې د شعر آمد وشي .هم هغسې ئې ليکه .نو دا به شاعري وي .زۀ په دې نۀ پوهېدم، چې د نورو علومو او فنونو په څېر شعر ليکل هم باقاعده زده کړه او رياضت غواړي .که چرته په مناسب وخت رابانديې دا انکشاف شوے وے او د شعر د ليکلو لپاره مې زده کړه

کړې وے، نو نن به کم از کم يو څو ګامه د دې نه مخکښې لاړ وم .بيا هم د الله تعالی څخه ډېر شکرګزار يم، چې ما غوندې غريب او ادنی ليکوال ته ئې د کتاب د چاپ کولو توان راکړ .
د کتاب په چاپ کښې د هغو ټولو ملګرو مشکور يم، چا چې ما ته يا خو براه راست مشورې راکړې دي او يا ئې د ټېليفون او سوشل مېډيا له لياري په خپلو قيمتي مشورو نازولے يم.
د دې کتاب د چاپ کولو په لړ کښې چې کومو ملګرو ما سره مرسته کړې ده .زۀ د هغو ټولو ادبي ذوق ته سلام کوم او د مرستې څخه ئې يو جهان مننه کوم.
د ګران نادرخان عليل صېب، رحمن ګل مشکور صېب، اقبال ساغر صېب او نوراسلم اسلم صېب څخه هم يو جهان مننه کوم، چې زما په کتاب ئې خپلې قيمتي سريزې و ليکلې.
د فلېپ لپاره د ګران جاوېد احساس صېب، د سرپاڼې جوړولو لپاره د ګران زاهد امين صېب او د پروف ريډنګ کولو لپاره د ملګري ډاکټر نورمحمد دانش بېټني صېب ډېر زيات مشکور يم .
د دستار ادبي کاروان (تجوړي)او بېټ بابا ادبي کاروان د ټولو غړيو(چې د ټولو نومونه ليکل راته ګران دي)څخه يو جهان مننه کوم .چې زۀ ئې د يو شاعر په توګه قبول کړے يم.
زړۀ خو مې غواړي، چې ډېر څۀ و ليکم، خو د طوالت له ډاره به دومره اووايم، چې دا څۀ چې ما په دې کتاب کښې راغونډ

کړي دي .دا زما خپل نظر دے .او که د چا سره ئې څۀ نسبت یا ورته والے ولاړۀ .نو دا به اتفاقي خبره وي .ما کوشش کړے دے .چې په خپل لیک کښې د کومې فرقې یا ګوند جذبات مجروح نۀ کړم .ولې بیا هم انسان نیمګور دے -او د بخښنې حق مو په ځان پور ګڼم.

په آخره کښې به د خپلې شاعرۍ په حقله د څۀ وئیلو دومره جرأت وکړم چې

وخت دې زما د شعر په باب کښې کنجوسي نۀ کوي
صــــفا دې اووائي چې څومره مې معیار ساتلے

په پښتنه مینه

اکبر مهجور بېټنے

# مناجات

اے د کل جهـــــان مالکـــه ! زړۀ همـــدرد را
چـــې ستا قرب پـرې حاصـــلېږي هغـــه درد را

د اســــلام دښمن ته زړۀ زمــــا ســنـــدان کـړه
مســـلمان لـره زړۀ نـــــرم، مزاج ســــــرد را

د شيـــــشې غوندې شفــاف زړګے نۀ غـــوارم
څـــۀ نا څـــۀ د محبـت ور باندې ګـــــرد را

قـــدردان مـــې چـــې د هــرې يـــوې ادا وي
په خـپل کور کښې يو ښۀ زړے غونـدې فـرد را

د فاطمــــې^(رض) په شانتــې لوښـه يو څو راکـــه
په اولاد کښـــې د عمــر^(رض) غوندې څـــو مـرد را

ببتـــنے مهـــجور چـــې تاتـه مخـامـــخ شم
ډېر لـه عجــز و انکســـار څــخه رنـګ زرد را

۲۰۱۱-۱۰-۲۸سي ايم ايچ کويټه

# دعا

کشتيې

زمــا د بخت چــپه کشتــۍ کړه رواني خدايه!
دا زمــا ګرانــې خـو و تا تـه دي اسانې خدايه!

ئې راسره، خو کــه لاسونه دې را اوغــزول
دا دے تري زغلــم، راپســې دي بلاګانې خدايه!

پړمخــې ښکــته ئې ګوذار کړې د غـرور لـه پاړشنګ
دا چــې زمــا پـه زوال وښـي متـايانې خدايه!

تــهٔ خو کوے شــې، کـه بارود کـړې پـه ګلــونو بدل
تـهٔ خو کوے شې، کـه دا دشتې شــې ودانې خدايه!

چــې د يار غــاړې تـه کـرم جـوړ د اوربلــکو امېــل
د ژوند شپې ورځې مې کړې دومره مهربانې خدايه!

دے مــې خواهش ، چــې واخلم يـار د ملغلرو پـه تـول
تـهٔ خو قــادر ئې ربّـه! تـهٔ ئې کړې ارزانــې خدايه!

خبر دے کــه خلــق راکوي د سپینو څڼو پېــغور
زۀ دې یم زوړ خو حوصلې مې دې وي ځوانې خدایـه!

ستا د کومک ډیوه شه بلــه د مهجور پـه زړۀ کښـې
چې د ژوندون تاریکې شپې مې شي روښانې خدایـه!

......۲۰۱۹-۰۷-۲۱بارکهان

## دوه شعرونه

کمزورے عقل مې د تا حکمت تـه نۀ رسېږي
خاونـده! تـا لـه خړابکـې شـاهین وزېـږاوۀ

هلته د تا غوندې سنګدل پکښې خاپوړې وکړې
دلتـه مهجـور د بېتـنیـو زمـین وزېـږاوۀ

# نعت شریف

ورک یُو، لار رانه خطا ده، محمده! ﷺ
یوه هیله مو د تا ده ، محمده! ﷺ

د زړهٔ ساله مې د تورو تیارو ډکه
ستا د یاد پکښې رڼا ده ، محمده! ﷺ
په دې وجهې ده دنیا رابانډې ګرانه
چې د تا له مخ پېدا ده ، محمده! ﷺ
مطمئین شم چې دې نوم وربانډې واخلم
شُکر، ژبه ئې چې را ده، محمده! ﷺ
د قرآن نه پس مې دوه ډیوې په لاس کښې
یو دې ګفت، بل دې ادا ده ، محمده! ﷺ
د محشر په ورځ چې هر سړے په ځان وي
او مې نهٔ باسې له یاده، محمده! ﷺ

مهجور ستا په لاره تلل غواړي له خدایه
د خلاصي لاره هم دا ده ، محمده! ﷺ
۳۰-۰۷-۲۰۱۹بارکهان

ممکنه نهٔ ده چې هنر عروج ته ورسوم
څنګه به دا پرې شوے سر عروج ته ورسوم

زما د شعر په ټکي ټکي کښې موجود دے هغه
که داسې وه، زهٔ به دلبر عروج ته ورسوم

نهٔ به پوره شي دا ارمان چې محبت دې عام شي
نهٔ به د مینې دا سفر عروج ته ورسوم

زهٔ دې په هجر کښې مېده شم د رنجو په شانې
خو چې د تا ښکلے نظر عروج ته ورسوم

ملالې! تهٔ مې ټپَوه د ډاډ لاسونو باندې
زهٔ به د خپل همت لښکر عروج ته ورسوم

زهٔ په خپل قام باندې تر دې حده مئین یمه چې!
غواړم چې دا بشر بشر عروج ته ورسوم

زما د شعر و شاعرۍ نه بس هم دا مقصد دے
تۀ ئې زما، چې دا خبر عروج ته ورسوم

وېل ئې مهجوره! پلو لرې کړم، بې باکه شمه؟
وېل ئې، ښائست د مازدیګر عروج ته ورسوم؟

....۲۰۱۷-۰۸-۲۰رتنزئ

## درې شعرونه

د مخ لمر به دې وجود وۀ سېځولے
شکر باسه چې دې زلفې ګورې هم شته

که د امن نارې هم وهو رقیبه!
په کورو کښې مو ټوپک او تورې هم شته

کوهِ قاف ته سترې مه کوه مهجوره!
بېټنو کښې ښاپېرۍ شته، حورې هم شته

❁❁

مزدوران یو، ورځې شپې خرڅوو ښار کښې
خپل لاسونه خپلې پښې خرڅوو ښار کښې

راته ګوره! آئینې خرڅوو ښار کښې
ښکلي نۀ یو چې کیسې خرڅوو ښار کښې

مونږ د هیڅا لور سرتوره لیدے نۀ شو
له دې وجهې لوپټې خرڅوو ښار کښې

په دې هیله چې د سیالو سره سیال شو
د لیلٰی د غوږ ډېډې خرڅوو ښار کښې

ستا په شانې مرمۍ نۀ خرڅوو خانه!
مسواکونه او تسپې خرڅوو ښار کښې

بې تعلیمه یو خو بې شعوره نۀ یو
کتابونه او بستې خرڅوو ښار کښې

خپل بچي راته نهر په کور کښې ناست دي
بادامونه او پیستې خرڅوو ښار کښې

مونږ غربت یو تر دې حال رارسولي
د خپل یار د لاس تحفې خرڅوو ښار کښې

د رښا طرفداري کوو مهجوره!
لالتهېنونه او ډیوې خرڅوو ښار کښې

رتنزئ ۰۱-۰۳-۲۰۱۸....

## دوه شعرونه

چې په خپله مې زړۀ سوړ درباندې نۀ وي
په رقیب باندې دې نۀ وژنم، رقیبه!

زۀ ببلتون، تۀ د خزان له لاسه ژاړې
راځه! ګډ چې سره ژاړو عندلیبه!

پردي نۀ دي راغلي، کليوال دي څو کسان
په لار د پرمختګ کښې مو دېوال دي څو کسان

زما د بدې ورځې تماشه کوي له بام
زما په الميې باندې خوشحال دي څو کسان

زۀ هم پکښې شامل يم، تۀ منې که نۀ منې
جانانه ستا په تګ باندې ملال دي څو کسان

زما په شان زما د قام په حقله لري سوچ
د ژوند په دې مزل کښې مې هم خيال دي څو کسان

که څۀ هم په هر لوري دي نارې د ازادۍ
ملګري د تيارو دي، يرغمال دي څو کسان

مهجوره! که هر څومره پرمختګ وکړو دنيا
مئين د يار د ګوتو په رومال دي څو کسان

رتنزئ ۲۰۱۹....جون

ککړ په ګناهونو یم، سپېڅلې پاتې نهٔ یم
دا ځکه د پخوا په شانې ښکلې پاتې نهٔ یم

بادار ته مې که مخامخ ځواب ورکړے نهٔ وي
غزل کښې مې غندلے د ے، څهٔ غلے پاتې نهٔ یم

برجونه د غېرت دي راته غېرو نړولي
پښتون یمه خو هغسې ښاغلے پاتې نهٔ یم

سندره مې د وصف شوه ضعیفه او منسوخه
شاعر یم خو کتاب کښې دې لیکلے پاتې نهٔ یم

ورو ورو د تا د زړهٔ نه لکه پل د لارې ړنګ شوم
رِشته کښې زهٔ د تا سره تړلے پاتې نهٔ یم

هر څو مې که په ګرد کښې د حالاتو غزل ډوب د ے
مهجور د تا په باب هم لب ګنډلے پاتې نهٔ یم

۲۹ ستمبر ۲۰۱۹.....بارکهان

ښکلې دې له ما، هم له تا ښکلې دې
ژوند په حقیقت کښې بلها ښکلې دې

کور مې دې فراخ خو دې شډل مېدان
دا خو مې د زوے په ژړا ښکلې دې

خلقو د خپل ذات ثخه وېستلې دې
تورے ګڼي ډېر د "وفا" ښکلې دې

نۀ منم د یار په باب هیڅ نۀ منم
تور به وي خو بیا هم له ما ښکلې دې

نور د تا د ډار مې پرې خور کړے دے
مخ زما په دغې رڼا ښکلې دې

دومره لوے اعزاز او خړکے مهجور
دا ضرور د چا په دعا ښکلې دې

۱۴ مئ ۲۰۱۹...رتنزے

سلګۍ کوم وړې وړې، خوبونه نهٔ رادرومي
زما نشې! بې له نشې خوبونه نهٔ رادرومي

د وصال تنده مې بل هيڅ بانديې نهٔ ماتېږي
ماته د بل په بسترې خوبونه نهٔ رادرومي

ستا انتظار، د غرۀ لمن ده، تکه توره شپه ده
خوا کښې مې شور دے د چينې، خوبونه نهٔ رادرومي

ستا د وربل يو يو وېښتهٔ څخه بوسې اخلمه
هاے راسره خوا کښې ودې! خوبونه نهٔ رادرومي

زما کوټه کښې مخامخ د تا تصوير ځوړند دے
همدا سبب دے چې د شپې خوبونه نهٔ رادرومي

مهجور تمامه ورځ په" جي جناب "کښې تېره کړمه
او شپې د تا له روّيې، خوبونه نهٔ رادرومي

۱۰-۱۰-۲۰۱۸ بارکهان

پښتونه! چې دې ګورم ستا تصوير په وينو رنګ دے
دا ځکه خو زما هر يو تحرير په وينو رنګ دے

خبرو نه دې ورېږم د لمدو غوښو رادرومې
شايد چې د تا فکر او ضمير په وينو رنګ دے

نازک او سپين مخونه مو لړلي په بارودو
فرياد مو غوښې غوښې دے، هر وير په وينو رنګ دے

حېران يو چرته يوسو خپل ټوټې ټوټې لاشونه
باچا په خوب اوده دے، هم وزير په وينو رنګ دے

پــــکار ده چې ئې وشي په ژور نظر څېړنه
سالار دےسلامت مګر بهير په وينو رنګ دے

جانانه! په پياسهٔ کښې دې نقطه ده د سندورو
د جېل توره کوټه کښې څوک اسير په وينو رنګ دے

مهجوره! د وجود کابل مې ټول دے نړېدلے
مهجوره! زما زړهٔ لکه کشمير په وينو رنګ دے

د دې نه مخکښې چې غبار د آئينې اوګورې
خلق دې په خپلو ګرېوانونو کښې څهرې اوګورې

داسې خو ډېر دي چې مې ولې تل په کاڼو د طنز
داسې به څوک وي چې مې زخم د سينې اوګورې

ما ته هم پته ده چې زۀ لرم غرئيزه لهجه
ياران دې ما چېرې له بلې زاويې اوګورې

د خولَې هرې يوې قطرې سره مو څاڅې غُربت
څوک دې زمونږ په ملا د جبر نښانې اوګورې

زړۀ کښې به څۀ ګمان کوي د اسمانونو مخلوق
چې مې په رنګ دېوال د" زنده باد "نارې اوګورې

مهجوره! هر يو لاروي ورباندې کړے ګوذار
څوک دې زمونږ د زړونو ماتې دروازې اوګورې

اګست ۲۰۱۹ بارکهان

زما کوټه کښې سامان ګڼه وه پروت وي
مسافرۍ کښې مې دهیان ګڼه وه پروت وي

د ورځې ښې ډېرې روپۍ وګټم
او بیا مې شپې ته دا ځان ګڼه وه پروت وي
د سپرلي شپه ده او بیا دولس بجې
اوس خو به څرنګ جانان ګڼه وه پروت وي
حورې، جنت او د غلمانو هوس
شېخه! د تا به ایمان ګڼه وه پروت وي
چرته چې راج وي د دولت و هوس
هلته د حسن دکان ګڼه وه پروت وي
چې هر یو سر ئې سردارۍ ته غل وي
د داسې خلقو کاروان ګڼه وه پروت وي

مهجور د هغو سره نۀ کړم رشته
د چا چې ورۀ کښې ډېران ګڼه وه پروت وي

۱۲ مۍ ۲۰۱۸... بارکهان

د قام نوحې چې له تاريخ او له اخباره ليکم
څۀ ضرورت دے؟ زۀ غزل د څۀ دپاره ليکم

ناپوهه خلق پرې د کاڼو ګوذارونه کوي
په هر دېوال باندې هر لفظ لکه هنداره ليکم

پکار خو دا ده چې انځور کړمه د کلي ژوندون
څۀ به له ښاره ليکم، څۀ به له بازاره ليکم

زما په ذات کښې يو څوک شته چې تر ګرېوان مې نيسي
زۀ د معيار سندرې تل له دغه ډاره ليکم

زۀ د لهجو او روّيو څخه هم زده کړه کوم
خبرې لږې کړم، خبرې بې شماره ليکم

يارانو تل دي افشا کړي د مهجور رازونه
د يار نامه ستا په ټټر باندې چيناره ليکم

۱۳ اګست ۲۰۱۹ ...بارکهان

آخري وخت دے، په خپل زړۀ هم بهروسه نۀ کوم
خبره زۀ ورسره ستا په حواله نۀ کوم

دې غریبت دي اړولې په ما ډېرې وعدې
اوس هوښیار شوے یم ، د چا سره وعده نۀ کوم

اختر کښې نۀ ورغلم یار ته دروغژن ثابت شوم
ګیله مې شته درنه خاونده! خو ګیله نۀ کوم

د چا د لاسه د ژوند داسې مرحلې ته راغلم
د سترګو جنګ دے، د غرۀ سر دے او تېپه نۀ کوم

خوښه دې نۀ ده؟ چې دې پټ په زړۀ کښې وساتمه
هسې نۀ هېر مې شې، اتبار په حافظه نۀ کوم

بره ختلے یمه زۀ د عاجــــــزۍ په پوړو
مهجوره! فخر په خپل قد او په سایه نۀ کوم

۱۷ اګست ۲۰۱۹ ....بارکهان

چې سره پرېنږدو، يرېږم، نافرمان ئې ژونده!
ما باندې ژغ هم نۀ کړې، ما سره روان ئې ژونده!

دا خو دې شپې ورځې دې داسې لکه کاڼي چيچل
دا خو معلوم شوې راته، دا خو بلها ګران ئې ژونده!

لکه د زوے مو دې همېش دې په لمن خړلي
بيا هم د دې باوجود مونږه باندې ګران ئې ژونده!

تل د مئينو د نظر خيري له ځانه وينځي
دا چا وئيلي دي چې ښکلو ته اسان ئې ژونده!

مونږه د تا په سهارې باندې څۀ څۀ او نۀ کړل
په خدا ے چې تۀ خو به ومونږه ته حېران ئې ژونده!

څو چې مهجور د يار و زړۀ ته رسېدلے نۀ يم
و دې کړې خدا ے چې تر هغې مې سايبان ئې ژونده!
۷ جون ۲۰۱۹ ....رتنزئ

تـهٔ چـې تلـې ئـې څـهٔ داسـې کېفيـت دے
را ښيـتې شـوے زمـا دوه ګـوتې قامـت دے

وخـت لـرم خـو کرايـه راسـره نشـــــته
تـل مـې کـړے هـر محفـل نـه معـذرت دے
مـونږ د مينـې پـه تبليـغ کښـې ناکـام شـوي
مـونږه کـړے ځانلـه ځانلـه محبـت دے
د ترخـې لهجـې پـه زيـان بانـدې خبـر شـوم
رانـه تښـتي تـل کـه يـار دے کـه شـهرت دے
لکـه اوښ تـر مهـار ځـان پسـې مـې بيـائي
ضـرورت دے، ضـرورت دے، ضـرورت دے
مـا تـه حـل زمـا د سـتونزو پـټ پـټ ښـائي
ګـوشے نـهٔ يمـه پـه شـاه مـې يـو قـوت دے

چـې عرفـان د ځـان او سـتا وربانـدې وکـړم
و مهجـور تـه پکـار دومـره بصـيرت دے

۱۱ جون ۲۰۱۹ رتنزئ

که عیب ئې نهٔ وي، د بلې پـه سر بـه وژاړمـه
یـوه شـېبه پـه خپـل ژور پرهـر بـه وژاړمـه

زهٔ د خپل سوچ قفس کښې لا پـورې بندي پـاتې یم
ما خو وَئیـل چې که پـه بحر و بـر بـه وژاړمـه

مـا خـو د تـا هـره ادا انځورولــــه پـه خدای
هیڅ خبر نهٔ وم چې پـه خپل هنر بـه وژاړمـه

زمـا او سـتا رشـته څهٔ عـامـه رشـتـه نـهٔ ده ګـورې
پـه ماتېـدو ضـرور د دې ګـوهر بـه وژاړمـه

لا پورې هیلـه مې ژونـدی ده د پـرواز پـه زړهٔ کښې
که اجازت وي؟ پـه خپـل مـات وزر بـه وژاړمـه

د انسـانیت ړومبی زینې بانـدې مې ټـوپ وهلی
مهجـوره! لـږ پـه خپـل بربـاد ټبـر بـه وژاړمـه

۱۲ ستمبر ۲۰۱۹ ...بارکهان

❁❁

د مندرۍ پېغلې ياري کوم، لګيا يم
په لنډه بحر کښې شاعري کوم، لګيا يم

په دې هيله چې وطن خوشبو خوشبو شي
په هر ګل پورې خواري کوم، لګيا يم

کوچنۍ لور په ټيليفون غلطومه
بس! درځمه تياري کوم لګيا يم

پلار مې وېل بچيه! تهٔ راته يادېږې
ما وېل زهٔ هم مزدوري کوم، لګيا يم

دې نفسي نفسي ماحول او لنډه تنګ وخت کښې
ځانه! زهٔ دې ملګېري کوم، لګيا يم

د بارودو او ماينونو په وطن کښې
مهجور خپله نوکري کوم، لګيا يم

۳ ستمبر ۲۰۱۸ ...بارکهان

هغه لګیا دے، په زړۀ زور کړي، ما له یاد اوباسي
څومره کم عقل دے؟ چې ما له خپل هېواد اوباسي

کله په څۀ، کله په څۀ، کله په څۀ بهانه
یو څوک لګیا دے، مونږ کښې لیکې د فساد اوباسي
زما او ستا دا په یو بل د اعتماد خبرې
تا ته وړې ښکاري خو سترګې د جلاد اوباسي
هغه چې ډکې ئې له مونږ کړې هدیرې د وطن
هغه زمونږ له خولو نارې د زنده باد اوباسي
د دې وطن په هر یو کانړي پورې ناست دے جاسوس
په خدا ے باور وکړه که څوک هم له خولې باد اوباسي
مونږ همېشه دي ورته تاړي د بریا وهلي
هغه چې څوک مو جنازې د استعداد اوباسي

زۀ لا د عدمِ تشدد په فلسفې ولاړ یم
مهجوره اوګوره، بنې رانه صیاد اوباسي

۲۷ جنوري ۲۰۱۹ ...بارکهان

❁❁

له ما ګيلې کړي خو له خپلې لهجې نۀ دي خبر
زما ياران د ځان له دغې زاويې نۀ دي خبر

د ښار مېډيا او اخبارونه دي له هر څۀ خبر
زما د مات او مئين زړۀ له حادثې نۀ دي خبر
څنګه به وکړي مقابله د نوي وخت د جابر
دا چې بچي مې له کتاب او بستې نۀ دي خبر
دا اوسني مئينان غواړي و تنديو ته خېر
ياري کوي خو د يارۍ له قاعدې نۀ دي خبر
زما تصوير اخلي، راغلي تماشې ته خلق
دا په زړو مست، له اذيّت د پنجرې نۀ دي خبر
خدايزده چې هغه به په کوم مخ و جنت ته درومي
څوک چې له پلاره دي باغيان، له" ادې "نۀ دي خبر

چې د بدرنګو په ليدلو به ئې څۀ تاثر وي
مهجوره! هيڅوک هم له زړۀ د شيشې نۀ دي خبر

۲۰۱۹-۰۴-۰۷باركهان

۞۞

له خدایه درته غواړمه دعا د مئینتوب
جانانه په تا ولګه وبا د مئینتوب

زېږېږي ئې په ورو ورو باندې پاڼې د وجود
په چا باندې چې اولګي هوا د مئینتوب
تر اوسه در معلوم نهٔ شو زما د زړګي حال
جانانه! درته و نهٔ کړم شېرا د مئینتوب
سپین ږیرے شوم خو بیا هم په هر ښکلي یم مئین
دا ولې په ما رورېدې ده بلا د مئینتوب
په سترګو کښې ئې راکړلو د مینې بشارت
په سترګو کښې مې وروړه تمنا د مئینتوب
که خبر وۀ، له ذهنونو به تیارې باسو د شک
کوو به و یو بل ته مونږ رڼا د مئینتوب

یوه لحظه دیدن ته د جنت سره تشبیه
مهجوره! څۀ عجبه وي دنیا د مئینتوب

۲۷-۱۱-۲۰۱۸ بارکهان

ډالر، درهم او په دینار پسې ورک شوے یمه
مزدور سړے یمه، په کار پسې ورک شوے یمه

کم از کم دومره چې بارود خو پکښې نۀ خرڅېږي
په داسې ځاے، په داسې ښار پسې ورک شوے یمه

څومره عجبه کېفیت سره مخ شوي یو مونږ
یار نه زۀ ورک یم، زۀ په یار پسې ورک شوے یمه

ترخه کیسه درسره خوند نۀ کوي، ځار دې شمه
زۀ ستا د سپینې خولې په ځار پسې ورک شوے یمه

ما د خپل تار تار ګرېوان هیڅ بندوبست و نۀ کړلو
زۀ ستا د تورو زلفو تار پسې ورک شوے یمه

زۀ د فورټ منرو او زیارت چکر ته نۀ یم تلے
بلوچستان ته په روزګار پسې ورک شوے یمه

محسوسوم ئې خو موندلې مې تر اوسه نۀ دے
یوۀ بنائست، یوۀ سنګار پسې ورک شوے یمه

نۀ ورختے شمه مهجور، نۀ مې ترې زړۀ صبرېږي
ستا د قامت بالاحصار پسې ورک شوے یمه

۱۸-۰۳-۲۵ بارکهان

## دوه شعرونه

د یار د یو نظر لیدو دپاره
تا سره زۀ هم لمره! منلې وهم

زۀ د مثبتو نتیجو په تکل
اے په محنت باوره! منلې وهم

ظاهره مينه ده، ذهنونو کښې مو جنګ روان دے
پښې د يو بل وهو، سوچونو کښې مو جنګ روان دے

پښتون وطنه! تاته هيڅځ لاس رسے نځ لرو
په وير اخته يو، په کورونو کښې مو جنګ روان دے

ملا! تځ ښځ وائې چې علم زده کول فرض دي
خو ګورې نځ چې مکتبونو کښې مو جنګ روان دے

دې وحشتونو کړو په خدا ے نفسياتي مريضان
په ويښه هم مرو، په خوبونو کښې مو جنګ روان دے

کله د نفس کله شيطان کله د غيړ سره جنګ
مسلمانان يو په روحونو کښې مو جنګ روان دے

دستور دے، غيږه ورکومه رتنزے مهجوره!
ښځ سره پوے يو چې نيتونو کښې مو جنګ روان دے

۴ اپرېل ۲۰۱۴ نوشکي

زۀ د یارۍ په کار کېږي تل پاتې راغلے یمه
د محبت اظهار کېږي تل پاتې راغلے یمه

زۀ همېشه لرم یقین د برابرۍ په سطح
ځکه قطار او وار کېږي تل پاتې راغلے یمه
زۀ د ډیوو د کلي کس پکښې ړوند شوے یمه
د رڼاګانو ښار کېږي تل پاتې راغلے یمه
ما د جانان تر کوره سیخه یوه لار لیدلې
نور د ژوند هره لار کېږي تل پاتې راغلے یمه
ما د حساب کتاب بلها ډېرې کُلیې زده کړلې
ستا د خالونو شمار کېږي تل پاتې راغلے یمه
زما په مینه کېږي اکثر زما لهجه خنډ شوې
درته په جیو او جار کېږي تل پاتې راغلے یمه

مهجوره! ځومره وطنونه مې تر پښو لاندې کړل
بیا هم د عشق روزګار کېږي تل پاتې راغلے یمه

۱۳-۱۰-۲۰۱۸ بارکهان

❁❁

عجب خوف د دې اولس په حالت خور دے
ځان ځاني ده، تور لوګے د نفرت خور دے

کوم پړاؤ ته يم د ژوند رارسېدلے
په مازغو مې لکه زلفې وحشت خور دے

بيا د چا وړوکې لور ده ورکه شوې
په کوڅه کښې وير ژړا ده، قيامت خور دے

تعصب په پښتانهٔ ادب کښې ځاے شهٔ
په ذهنونو مو هوس د شهرت خور دے

د عشق غم د دنيا غم رانه پناه کهٔ
د برېستن غوندې زما په صورت خور دے

يو مهجور دے، يو ئې يار دے، يوه مينه
يو آواز دے، چې په کلي محلت خور دے

۲۵-۱-۲۰۱۸ ...بارکهان

چې له مازغو انسانیت لاړ شي ،شعور لاړ شي
زړۀ باندې ولګیږي زنګ، د مخ نه نور لاړ شي

ستا د وصال نشه کامیابه ده خو یو وخت پورې
چې کله، نۀ ئې، له همه وجود سرور لاړ شي
زۀ ستا په پښتو کښې خپل تنده لګول فخر ګڼم
دا چا وئیلي دي چې دې سره غرور لاړ شي
زما په زړۀ او په ځیګر ستا د منګولو نشان
الله دې وکړي چې خور وور لکه انګور لاړ شي
دومره دې وکړي چې دې نۀ اخلي پیسې د ولور
ګڼي دا نۀ وایم، کعبې ته دې ضرور لاړ شي
ما به د بام په سر اعلان وۀ ستا د مینې کړے
خو هسې نه چې ازغي پښتو کښې د کلتور لاړ شي

چې ورمعلوم شي د پیسو نۀ، د رشتو اهمیت
یاران دې یو ځلې په پلونو د مهجور لاړ شي

... ۱۷-۱۱-۲۰۱۸ بارکهان

هوس پرست د چا شلېدلي شال ته ګوري،خوښ دے
د کور له چنړ د همسايه دېوال ته ګوري، خوښ دے

من من غتېږي، مسکيتوب ئې دې څهرې باندې خور
څوک لېونے دې د جبين و خال ته ګوري، خوښ دے

په زړۀ نري او په پښو شل رقيب ته سوچ وړے يم
خپل دې په ټپو خو زما زوال ته ګوري، خوښ دے

لکه چې لويه خزانه ئې وي په لاس ورغلې
يو مسافر د چا د لاس رومال ته ګوري، خوښ دے

بلها مخونه، بلها سترګې ئې وروارړولې
هغه حسين شيشه کښې خپل جمال ته ګوري، خوښ دے

شايد چې تۀ پکښې له خپلو جفاګانو واورې
زړۀ مې په دې هيله راتلونکي کال ته ګوري، خوښ دے

لکه ويشتلے زرک له درده پرپټېږي کومه
يار د ښکاري غوندې زما و حال ته ګوري، خوښ دے

حسابوي ستا د هجران يوه يوه دقيقه
مهجور دېوال باندې ځوړند ګهړيال ته ګوري، خوښ دے

۱۴-۱۱-۲۰۱۸ بارکهان

## درې شعرونه

### د کليم صېب په زمکه

بارود ور واچوي او ستې کړي ماهيان
خود به رادرومي له تالابه ژړا

په ډېران پروت ئې، هيڅ ارزښت نۀ لرې
ماته دې راوسته کتابه! ژړا

مهجوره! خدائے دې خوشحالي عامه کړي
مهجوره! خدائے دې کړي نايابه ژړا

❁❁

مایوس مې نۀ کړ، پُرامېده مې زړۀ خوار ساتلے
ما بې د هیڅۀ معاوضې دې ور د یار ساتلے

ما د پارک هر یوۀ ګلاب نه خوشبو وانخسته
ما یقیناً چې ډېر په ګرانه دې وقار ساتلے

وخت دې زما د شعر په باب کښې کنجوسي نۀ کوي
صفا دې اووائي چې څومره مې معیار ساتلے

وایم چې دید ئې چرته بوج نۀ شي د تا په مزاج
ما د ګوګل پنجره کښې بند زړګے بیمار ساتلے

ما تمامي عمر رقیب سره زغملے ئې تۀ
ما تمامي عمر په سترګو کښې انګار ساتلے

مهجوره! زۀ د خپل بچي نه منفرد په دې یم
هغۀ کتره ساتلې ده او ما دستار ساتلے

**۲۵**ستمبر .......۲۰۱۹ بارکهان

❁❁

بره ګورم، په فضا کښې رانه ورک دے
هغه ستورے په خلا کښې رانه ورک دے

خپل شباب پسې لاسونه غزومه
د لوګي غوندې هوا کښې رانه ورک دے

سبا راشه، اوس مې عقل په ځاے نۀ دے
ماښامے دے، په مينا کښې رانه ورک دے

د سکون رمه مې ګډه وډه ګرځي
يار د شپون غوندې صحرا کښې رانه ورک دے

لا تر اوسه مې خپل زړۀ په لاس رانغے
ستا د سرو شونډو مسکا کښې رانه ورک دے

هيله نشته چې مهجور په ګوتو راشي
د پردي وطن رڼا کښې رانه ورک دے

سره بوڅخـــــې به شوه، وجود تـه بـه لا ننوتـه
تـا بـه وَئيَـل چې کـــــــه رڼا کښې رڼا ننوتـه

د برېښنا پړک سره به څـومره ښکلې وځلېده
د " تنـــــــا " غـږ سره بـه ځرنګه را ننوتـه
زما د سترګو شيشې ولوېدې، توکر توکر شوې
د زړۀ کوټه تـه مې د هجر هـــــــوا ننوتـه
د انسـانانو پـه شکلونو کښې بـــــچې زېږوي
د پښـتنو وطـــــــــن تـه داسې بلا ننوتـه
زمونږ کــــــورونو ته بلا د تور ټوپک ملګرو!
ده ننوتـــې خـو زمـونږ پـه رضــــــا ننوتـه
بيـا درنـه پـاتې دي مـــــلګرو! کتابونـه او درس
کـــــه مو و ذهـن تـه د مينې سـودا ننوتـه

مـا پـه ادب کښې ځان تـه ګوشي يـوه لار ټـاکلې
مهـــــجوره! ځکـه مې و شعر تـه معنا ننوتـه

...۱۳-۰۴-۲۰۱۹ بارکهان

شین پسرلے دے، یو و بل باندې مئـین دي خلق
څۀ داسې نۀ ده چې زمونږ غوندې غمژن دي خلق

د استغفار په تالابونو کښې دي ولمبېږي
دا چې ګناه باندې تپلي دي، خیرن دي خلق

که به زمونږ یو ځاے کېدلو باندې نۀ وي خفه
نو بیا تک زېړ ولې په شان د کورکمن دي خلق

چې اننګي دې د نظر په ژبه ونۀ ښتهي
تۀ څۀ خبر ئې ګل! چې څومره زهرجن دي خلق

مرګ که د یو جهان نه بل ته د سفر نامه ده
خوفزده ولې بیا له دار او له رسن دي خلق

یوه مسکا قدرې ئې هم په هیچا نۀ شي پېرزو
مهجوره! دلته په صحیح معنا نېستمن دي خلق

... ۱۷-۰۷-۲۰۱۹ بارکهان

ښکلي بې شمار دي خو که شمار باندې خبره راشي
يار مې اک يو دے، که په يار باندې خبره راشي

زمـــــا بچيه! د اجل هيڅ پته نۀ لګېږي
اول به زۀ مرم خو که وار باندې خبره راشي

زما د قام سره سره وي د بارودو ذکر
کله چې تې وي يا اخبار باندې خبره راشي

ما ته راياد شي د هغې پولۍ پولۍ لاسونه
چې په محفل کښې په سنګار باندې خبره راشي

حصول د يار، که د جنت، که د کوم بل مقصد وي
اول اول په انتظار باندې خبره راشي

تۀ خپل مهجور ور يادوه کنه، قربان دې شمه
که په منصور راشي، که دار باندې خبره راشي

۲۰۱۷ رتنزئ

ښنګه؟ له چا سره اشنا؟ په کوم صورت مې وکۀ
زما دعوه ده چې سپېڅلې محبت مې وکۀ

ما د خپل ځانه سره نور قفس کښې نۀ شوې ليدے
ژونده! په دې سبب له تا نه معذرت مې وکۀ
کاڼے مې وس کښې نۀ وۀ،لياړې مې در" تو"کړې، لاړم
لاس مې ترلې وو، بيا هم دومره جرأت مې وکۀ
ما د دې خلقو په شان ړوند عقيدت کله زده وۀ؟
سجده مې وکړه، عبادت وۀ که عادت مې وکۀ؟
ما سره څۀ وو؟ خو يو زړۀ وۀ زما کل کائنات
له چا مې ونۀ سپموۀ، هر چا ته ست مې وکۀ
د ښۀ غزل پتهکے ئې ما ته په سر کېښودلو
په تخيل کښې چې د ښېټ نيکۀ زيارت مې وکۀ

خلق راځي د مهجور پلونو باندې پلونه ږدوي
پوهېږم نۀ چې شاعري که قيادت مې وکۀ؟

۲۰۱۹-۰۹-۱۳ بارکهان

را غورزېدلـــــم خو اوړه دې راکـړه
وخــــــته! مننه چې موقعه دې راکـړه

بخـــــــته! مننه" ملالۍ دې راکـړه"
د مور دعا، د پلار ســــايه دې راکـړه
د سترګو جـــنګ کښې زخمي شوے ومه
تا تـه به ياد وي، دلاسه دې راکـړه
چې دې خپـل در کښې څوکيدار کړمه زۀ
څومره عظــــيمه وظيفه دې راکـړه
په ټول وجــــود مې ده لرزه راغلې
بوســــه دې راکړه که نشه دې راکـړه
لـه مــــا خو بالکل شاعري نۀ کېده
زلفې دې څنډ واهلې، مصرعـه دې راکـړه

د عشق لـه رويه دې دنيـــــا پېدا کړه
مهجور تـه هم خپلـه حصـــه دې راکـړه

۲۳-۰۸-۲۰۱۸ رتنزئ

له ژونده لرې يوه شپه وکړم که نۀ ئې وکړم؟
چې زۀ دا تلخه تجربه وکړم که نۀ ئې وکړم؟

زۀ په نارو باندې راوينس کړم خپل ودۀ اعتماد
د دار په سر باندې ټپه وکړم که نۀ ئې وکړم؟
زمـــــــــا ځهرې نه تعفن د ګناهونو راځي
سر درته ټيټ کړمه، سجده وکړم که نۀ ئې وکړم؟
ما ته له خپله ځانه ګرانه مخامخ سړيه!
ګيله مې شته درنه، ګيله وکړم که نۀ ئې وکړم؟
زۀ ستا تر کور پورې په ځۀ ځۀ کړاوونو راغلم
الف نه يې پورې کيسه وکړم که نۀ ئې وکړم؟
"عاشقي اور ده "مفروضه ده؟ او که رونړ حقيقت
اجازت شته؟ مشاهده وکړم که نۀ ئې وکړم؟

په ځان مې شته باور خو ژوند باندې مې نشته بېخي
مهجور د يار سره وعده وکړم که نۀ ئې وکړم؟

.....۲۰۱۹-۰۹-۲۲بارکهان

د جمعې شپه ده او دعا له خدايه غواړمه زهٔ
تهٔ دې خبره ئې چې تا له خدايه غواړمه زهٔ

د چا حسينې د ولور د پرېکېدو په خاطر
دنيا ښه نهٔ ده، خو دنيا له خدايه غواړمه زهٔ
په دې دنيا کښې مې کېږدې ته په ډولۍ کښې راوړې
هلته جنت کښې به دې بيا له خدايه غواړمه زهٔ
چې ستا د زلفو خوشبوئي تر ما را اورسوي
داسې خوږه غوندې هوا له خدايه غواړمه زهٔ
د جهالت په تروږميو مې نور نهٔ دي پېرزو
د قام بچيو ته رڼا له خدايه غواړمه زهٔ
د کلي پېغلو ته بستې او کتابونه غواړم
د کلي پېغلو ته حيا له خدايه غواړمه زهٔ

چې شوکولې ئې خندا ده، د مهجور له شونډو
هغه سرے هم په خندا له خدايه غواړمه زهٔ

...۱۸-۱-۵ بارکهان

لکه بلبړي دې ځراغ د زندګۍ په لار کښې
زما غزل دې وي تل خنډ د فحاشۍ په لار کښې

سپي دې غپېږي خو کاروان دې ورته نۀ درېږي
ګڼي خنډونه به راځي د ترقۍ په لار کښې

د انقلاب افزايش کېږي د وجود په وينو
بلها سرونه مو دي ورک د ازادۍ په لار کښې

په نيت صفا وم، سپين صفا منزل ته ورسېدم
خلقو را وتپلې ډېرې بد رنګۍ په لار کښې

ما د اعصابو په زور اوښکه قدرې هم نۀ کړه تو ے
ما ګلپاشي کوله تا ته د ډولۍ په لار کښې

مهجوره! ډېرې موضوع ګانې پس پرده پرتې
ډېره خلا شته لا د شعر و شاعرۍ په لار کښې

۳۰-۰۶-۲۰۱۹بارکهان

❁❁

چې مو د مینې او الفت پـه لاره تـګ کـړے دے
جانانـه دا مـو د جنت پـه لاره تـګ کـړے دے

کـه مـو هـر څـو وختونـو سـر بانـدې خنجـر نیـولے
مونږ پـه هر حال د حقیقت پـه لاره تـګ کـړے دے

کله مسکۍ شي، کلـه مـړاوې، کلـه ګوري کـاږۀ
سترګو دې تل د شرارت پـه لاره تـګ کـړے دے

د یـار پـه در کښـې نـۀ بانـۀ ځمبـو، نـۀ زړۀ درزوو
مونږ تر دې حد د شرافت پـه لاره تـګ کـړے دے

دا کېـدے نـۀ شـي چې مثبتـې پـایلې و نـۀ لـري
چا چې یـو ځـل د محبت پـه لاره تـګ کـړے دے

حالات کـه هـر څنګـه وو، بیـا هـم بېتـهنے مهجوره!
مـا همېشـه د ادمیت پـه لاره تـګ کـړے دے

۱۰ مارچ ۲۰۱۲ سي ایم ایچ کوټه

❁❁

تـر دي نـه بـه لا نـوره ځنګـه وي آداب؟ کـافرې!
تـهٔ وینـې نـهٔ؟ چې کړو درتـه جنـاب جنـاب، کـافرې!

تـهٔ وینـې نـهٔ؟ چې خولې مـو درتـه وازې دي نیـولې
د سـترګو نـه تـوئیږي دې تـک سـرهٔ شراب، کـافرې!

وَئیـل مې ورتـه څهٔ نـا څهٔ د خدا ے نـه اووېرېږه
وئیل ئې چې څوک نـهٔ دي پـه عـذاب مـذاب، کـافرې!

مسـکې شـولې،کږه شـولې، پـه خولـه دې هيـڅ و نـهٔ ويـل
پـه خدا ے چې پوے دې نهٔ شوم پـه حسـاب کتـاب، کـافرې!

د سـپین مـخ تمـاشې تـه او بوسـې تـه دې پـرې ننبـوو
محـروم دې ولـې مـونږه کړو لـه دې ثـواب، کـافرې!

تـر څـو بـه چې شـکمنه د مهجـور پـه محبـت ئې
د سترګو نه مې تـوے شـول درپسـې خونـاب، کـافرې!

...۲۰۱۸-۱۲-۲۰ بارکهان

د ټولې ورځې کرب لفظونو کښې بدل کړمه زۀ
د پردېس هر مازدیګرے غزل غزل کړمه زۀ

غربت نیولے یم له لاس، تا ته مې نۀ پرېږدوي
که هر څو غواړم چې د تا مسئلې حل کړمه زۀ
د ژوند په زغل کښې ستاپه څنګ کښې وم په منډه روان
چې رانه بېل شولې په دواړو پښو دې شل کړمه زۀ
دے عجب وخت، خپله سایه په چا اتبار نۀ کوي
په چا لاس واړوم؟ او څوک راسره مل کړمه زۀ؟
د ژوند یو اړخ مې کېفیت د مسکا نۀ لري خو
تا ته مسکے یمه بیا هم ورسره چل کړمه زۀ
له پاسه کاڼي دي او زمکه د ماینونو ډکه
تۀ څۀ خبر ئې چې په کومه لار مزل کړمه زۀ

هر سحر نوې حادثه، هر مازدیګر نوے غم
مهجوره! خاورې به خپل نظم مکمل کړمه زۀ

...۲۰۱۹-۰۱-۲۲ بارکهان

د عشق په لار چې روان شوے یمه
باور دې وشه چې ځوان شوے یمه

د شېخ بدین څخه مې لوړ شو قامت
په خپل لالي باندې ګران شوے یمه
د تا ګېډۍ زلفې مې راغلې په لاس
غریب سړے وم، ودان شوے یمه
د غریبۍ د لاسه پروت په فټ پات
که مې څوک اخلي ، ارزان شوے یمه
ما کلیمه ستا د ښائست وئیلې
جانانه! پوخ مسلمان شوے یمه
خلقو مې ځان ځانله معانې وکړلې
د وفا تورے یم، وران شوے یمه

مهجوره! وځم د خپل ذات له قفس
مهجوره! اوس خو کاروان شوے یمه

...۲۰۱۹-۰۸-۰۸ بارکهان

له ډېرو ورځو نۀ غزل شته، نۀ هغه راغلې
پوهېږم نۀ چې د ژوند کومه مرحله راغلې

ماتې ټوټې د شنو بنګړيو لور په لور پرتې دي
د وياڵې خوا کښې جوړ د مينې زلزله راغلې
ورور مې خوشحال دے چې کرنال زمکه ئې زياته يووړه
او زۀ خوشحال يم چې حجره مې په حصه راغلې
عشق کښې نوخېز يمه چې څۀ ځواب ئې وکړمه زۀ
د يار له لوري راته تشه لفافه راغلې
هيڅ وينم نه خو يوه عجبه شان خوشبو راخېژي
تۀ ئې؟ که مخته مې د سرو ګلو غنچه راغلې
عجبه کيف مې د وجود په اندامونو خور دے
د زړۀ و کور ته مې نن داسې مېلمنه راغلې

زۀ ورته تېر يمه له سر مهجوره! دوي څۀ کوي
ما ته همېش خپلو يارانو نه ګيله راغلې

۲ اګست ۲۰۱۸ بارکهان

څۀ ګټه؟ چې د کلي د رنځورو کیسې وکړو
راځه !چې و یو بل ته نن د حورو کیسې وکړو

بچي علم و عمل ته که لېږ وهڅوو، ښه ده
په ځاے د دې چې مونږ ورته د تورو کیسې وکړو

د دور واکداران څۀ په کاږۀ نظر راګوري
چې مونږ د دې وطن د ورارو بورو کیسې وکړو

د وینو له رنګونو مو زیات زړۀ شو تېخي مېخي
زړګیه !ښه به وي چې د سندورو کیسې وکړو

ټوټې ټوټې پراتۀ یو مګر بیا هم کله کله
د مشکو کیسې وکړو، د کافورو کیسې وکړو

مهجوره بېټنیه !شاعرۍ کښې مو نور څۀ دي
اولس ته د سرو شونډو د کجهورو کیسې وکړو

کـه مـې هـر څـومره پـه لکـونـو روپـۍ اوګټلې
بلهـا ښـېرې مې د يـوې ښـکلې جينـۍ اوګټلې

آخر دا وشـول چې د ژونـد سـيالي مې اوبائلله
ګني مـا ژونـد کښـې پـه سـوونو سـيالۍ اوګټلې
زۀ پـه خپل کـور کښې د بابـا خدمت تـه پـاتې شـومه
تبليـغ تـه لاړ دے، ورور مې ډېرې نېکۍ اوګټلې
شـايد چې خپلې مينې زۀ ورتـه کمزورے کړمـه
يـوې تـړژبـې نـن لـه مـا نـه کيسـۍ اوګټلې
تۀ پرې ټوپـک اخلې او زۀ پـرې چـاپ کـومـه کتـاب
تـا پـه رشـوت ګټلې، مـا پـه ديـاړۍ اوګټلې
څۀ احسـاسـات بـه وي د" تـا "او د خـړمخي رقيـب
کـه بخـت وفـا وکـړه او مـا، لېـونۍ! اوګټلې

مهجـوره! ماتـه خپـل بابـا پيرانـو پيـر ليـدۀ شي
څۀ کـه دعـاوې مې اکثـر لـه ابـۍ اوګټلې

...۲۰۱۸-۱۱-۱۴بارکهان

مازدیګریه! نن خو راشه د جانانه سره
څو به کومه زمزمې د خپله ځانه سره

ګل راکوي خو اے ګلابه! چې تا نۀ راکوي
په دې سبب مې ده جګړه د باغبانه سره

تۀ به تر څو شوکوې سر، بانه کوې به پېریان
زۀ به تر څو کومه لوبې د ګرېوانه سره

له ما به څۀ غواړي حساب زما د سترې ژوندون
څۀ انتظارکښې شولو تېر، څۀ د ارمانه سره

قادره ربّه! تنهائي ده، توره شپه او ژمے
لکه برېښنا چې جانان راغلے د بارانه سره

تۀ مې چې او بائیللې، نوم مې د مهجور موندۀ کۀ
رښتیا چې ګټه وي ترلې د تاوانه سره

اکتوبر ۲۰۱۷ رتنزئ

که مې د ګل په رژېدلو باندې شور ونۀ کۀ
دا هم دروغ دي چې دننه مې زړۀ اور ونۀ کۀ

ما له خپل ځانه راتاو کړے دے سپنسے د پښتو
دایره کښې وۀ اوسېدم، هیچرې مې زور ونۀ کۀ

لکه آکاس مو په تنکیو آرمانونو خور دے
تۀ ورته ګوره، دغ حسین خو بلا سوور ونۀ کۀ؟

د تا نه پس ما وېل چې ستا د عشق نشان ورک نۀ شي
ما د خپل زخم په هیچا باندې ټکور و نۀ کۀ

زۀ خو به پوے د جنتونو په مزې نۀ شمه
الله دې و نۀ کړي که وصل مې د مور و نۀ کۀ

د ځو یارانو برکت وۀ بېتهنے مهجوره!
چې په تربور مې اعتماد، باور په ورور و نۀ کۀ

**۲۵**-۱۰-۲۰۱۸... بارکهان

❁❁

دا ځینې طنز، ځینې لهجه کړي سرې پانې پانې
اکثر د خپلو رویه کړي سرې پانې پانې

څه شي حالات د وجود ونه به دې ورپوي
او څه د هجر بدمه کړي سرې پانې پانې
که د جانان له لوري وي، که د دربمګړي له لور
په ډک محفل کښې اشاره کړي سرې پانې پانې
څه که هېئت ئې دې بېل بېل، کېفیت یو شان لري
د مور دعا، د پلار ګیله کړي سرې پانې پانې
د سفر کرب د زړۀ نه تاو شي لکه تور مارونه
د تلو په وخت کښې اجازه کړي سرې پانې پانې
چې دې په جېب کښې ګوتې اووهي، موندۀ نۀ کړي هېڅ
د خپل اولاد خفه څهره کړي سرې پانې پانې

دکانداران مې دي لیدلي د خدایانو په څېر
مهجوره! خدا ے منې، قرضه کړي سرې پانې پانې

۰۳-۰۸-۲۰۱۹ بارکهان

دي په سوونو په زرګونو ، څۀ يوه نۀ ده
ما سره شوې وايه کومه الميه نۀ ده

حادثه به دا وي که له ما ئې شو زړګے صبر
مخ په بل لوري اړول خو څۀ حادثه نۀ ده
په توئېدلو ئې چې هيڅ انقلاب رانغے
شايد چې وينه د وجود مې پښتنه نۀ ده
د پښتون زوے به وي او خرڅ به په پيسو نۀ شي
دا حواله څۀ مستنده حواله نۀ ده
چې په راتللو مې ئې تلے نظر رانغے
دا خو کېدے نۀ شي ريباره! دا هغه نۀ ده
شاعره! دا خو دې ليکلې ده، د خان مدح
دا ترانه؟ نا ، دا زمونږه ترانه نۀ ده

د حق خبره هيڅوک نۀ کوي، په ماته خوله
مهجوره! ګرم يو مونږه، ګرمه زمانه نۀ ده

۲۲-۰۱-۲۰۱۹ بارکهان

تـا يـادوو مګـر جانانـه د خوب دې نـۀ يُـو
له خدا ے دې غوارو خو د ښکلي مخ د تاب دې نۀ يُو

مـونږ يُـو عبث د تـا لـه بندو دروازو ګيلـه مـن
مونږ هغه څوک يُو چې مئينو کښې حساب دې نۀ يُو

اے عشـقه! لا پـورې څهـرې شـي پېژنـدلې زمـونږ
خراب دې يُو خو مګر دومره ډېر خراب دې نۀ يُو

د هـوا هـره يـوه څپـه ئې پـه ازغـو کـړي ور رنـګ
يُـو دې ګلونـه خـو پـه مثـل د ګـلاب دې نـۀ يُـو

هسـې عبـث مـونږه ګيلـه د ډوبېـدلو کـوو
لا پـورې ورې د خپـل حسـن پـه درياب دې نـۀ يُـو

لکـه د اس مـونږه لـه خپلـه زوره نـۀ شـو خبـر
وختـه! زاړۀ شـو خـو خبـر لـه خپـل شباب دې نۀ يُـو

په خپلو اوښکو دې سل ځله لمبولي يُو خو
بيا هم ګيلې کوو چې تږي يُو، سېراب دې نۀ يُو

د تا په در کښې مونږ لرو د کوربنو حېثيت
په زمکه ناست يُو، و صوفو ته انتخاب دې نۀ يُو

مهجوره! راز و نياز د يار سره پرده کښې خوند کړي
لکه دا ځينې ځينې دومره بې حجاب دې نۀ يُو

...۲۰۱۹-۰۲-۰۹ بارکهان

## دوه شعرونه

هر يو ګل سره چاودۀ شم، د ماليار سړي زړګے يم
که هر څو مې په ظاهره برابره زندګي ده

د چا سپي کښې د سرو هار دے،د چا پښو کښې څپلۍ نشته
هغه بره زندګي ده، هغه لره زندګي ده

چرته چې هر سړے د خپل بادار سندرې وائي
په داسې وخت کښې مهجور جان د يار سندرې وائي

څۀ که نړۍ پرمختګ کړے دے، روانه ده لا
انساني ذهن لا هغه د غار سندرې وائي
تن تنها يم د هغوي و مقابلې ته ولاړ
د چا د جبر چې دا واړه ښار سندرې وائي
راځه زړګيه! چې دا خپلې غړۍ خپلې ور وړو
تر څو به مونږه ته قاضي د دار سندرې وائي
د تنهايۍ د اذيته نه دې خدائے وژغوره
ياري مزه کړي خو چې يار د يار سندرې وائي
زما او ستا نامې ئې غبرګې پکښې واخستلې
پردي وادۀ کښې دې نن بيا ورندار سندرې وائي

مهجوره! ډېرو د سندرو تقدس مجروح کړ
مګر يو څوک شته، چې اوس هم د کار سندرې وائي

....۲۰۱۹-۱۱-۱۲د بارکهان نه د کلي په سفر

حجره خالي او مېسېنجر د پېغامونو نه ډک
اختر دے، خاندم، زړۀ مې دے د پرهرونو نه ډک

زما روزي ئې په يو داسې وطن ونوستله
هغه وطن چې دے کلهم د دهشتونو نه ډک
زۀ په خپل ليک کښې يک طرفه پاتې شوے نۀ يم
زما غزل دے د پرېمانه عنوانونو نه ډک
زۀ او لالے پکښې پېښونه او درمل خرڅوو
کلهم مارکيټ د پټاخو، د غلېلونو نه ډک
که زړونه نۀ وي، و يو بل ته به ګلاب ډالۍ کړو
نۀ کړي هيڅ خوند چې د مخ مېز وي د ګردونو نه ډک
شعر دې د حسن او رومان له ذکر نۀ وي خالي
نۀ دې وي شعر د صفتونو او ويرونو نه ډک

مهجورخۀ يادې کړې په شعر کښې د ګورګورو غنچې
کجلے مخ دې کړو پاګلې! د خالونو نه ډک

ستمبر ----۲۰۱۹ بارکهان

ستا د راتلو چې پاتې نۀ شو هیڅ امکان جانانه
نو فطرتي ده، شوکوۀ به مې ګرېوان جانانه

د تا نه پس مې ځان په ډېرو ژړاګانو مړ کۀ
د تا نه پس خو ژوندون نۀ وۀ څۀ آسان جانانه
دا دومره مینه او دا دومره د لهجې نزاکت
ولې به نۀ وي هر سړے درته حېران جانانه
چې په ایمان او محبت باندې کمزوري نۀ شو
نور خو دنیا ده څوک غریب او څوک ودان جانانه
لکه اېنډزن به مې و نۀ نیسي د فن په مېدان
هسې عبث راپسې زغلي څو کسان جانانه
ما په تندي روښانه کړې دي ډیوې د بریا
زما لغت کښې ټکے نشته د " تاوان "جانانه

د تا مهجور چې لګېدلے وم له کومې مورچې
هغې کښې اوس هم دي زما خوارۀ یاران جانانه

...۲۰۱۹-۰۱-۱۵ بارکهان

ستا یادونه مې په زړۀ راننوځي
غلچکي دي، په کالۀ راننوځي

د جهان غمونو تېنګه غېږه راکړه
لکه غېږې ته واړۀ راننوځي

ور مې کلک دې په خپل ځان پسې ترلے
څو بلاوې دي، په ورۀ راننوځي

مستري !خونه کښې مې لوے روشندان جوړ که
چې خوشبو پرې د هغۀ راننوځي

د رمې په حفاظت باندې معمور یم
څو لېوان دي، په شپالۀ راننوځي

یاد دې پوے که، دسمبر دے، زړۀ مې چَوي
لکه یخ دې زړۀ ته نۀ راننوځي

ستا خوږه نامه مې خوله کښې آوړي، راوړي
د ګبين مچۍ په خولۀ راننوځي

احترام د ټولو ښکليو کړم مهجوره!
فقط زړۀ ته پښتانۀ راننوځي

۲۰۱۸-۱۰-۲۲ بارکهان

## دوه شعرونه

زما د ژغ تودې سيلۍ سره سر وخنډوي
ګلمخي يار ته بې له دې بله ادا نۀ ورځي

کله په شعر کله په نثر کښې ستا ذکر کوي
د تا مهجور ته جوړې نوره ژغېدا نۀ ورځي

که مې هر څو ایساروۀ په هر صورت لاړو
زما په زړۀ کښې چې وۀ تا ته محبت، لاړو

هغسې اوس له ډېره نازه ول ول نۀ ځانګي
لکه چې ستا د تورو زلفو حکومت لاړو
یوې لحظې د پاره خوا ته مې تۀ څۀ راغلې
امبارکۍ راکېږي، ژغ مې د جنت لاړو
عظیمه ربّه !د تا خوښه ده چې هر څۀ کړې
زما د ورکې خبر ستا تر عدالت لاړو
ما د یو چا و ګمنامۍ ته ژبه ورکړله
زما د شعر چې په څلور کونجه شهرت لاړو
نۀ ئې سینې باندې اوس ږدم، نۀ د بالښت لاندې
بې وفا ستا د تصویرونو اهمیت لاړو

که خپل ئې نۀ کړلې خو سر ئې درته ټیټ نۀ کۀ
ستا د کوځې نه مهجور لاړ خو په عزت لاړو

...۱۸-۰۱-۲۰۱۹ بارکهان

په شنو خالونو ، تورو زلفو او پېزوان کښې بند دي
زما اکثر ملګري اوس هم په رومان کښې بند دي

د ظرف کیسه ده، چا ته دُر او چا ته لیاړې ښکاري
د ملغلرو غوندې اوښکې مې ګرېوان کښې بند دي
نور به د خپلې ډېرې مینې څۀ ثبوت درکړمه
ستا د بنګړو ماتې ټوټې مې په سامان کښې بند دي
په تورو شپو، په تورو غرونو کښې بې خوفه ګرځه
اوس خو کلهمې بلاګانې په انسان کښې بند دي
تمامه شپه زما د زړۀ د کوټې ورټکوي
څو ارواګانې راسره چا په مکان کښې بند دي
د ظرف خبره ده چې تا ته مې سپړدلے نۀ دے
ډېرې ګیلې زما د زړۀ په ګورستان کښې بند دي

مهجوره! خوار یم خو په زمکې کښې آزاد ګرځمه
زما یاران دي لکه ستوري خو آسمان کښې بند دي

۰۳-۰۴-۲۰۱۹ بارکهان

ګله! په تا ئې د ګلاب جوړې ګمان راځي
تهٔ چې رادرومې، نو په سر دې بلبلان راځي

داسې ګولۍ راکه چې درې ورځې په خود نهٔ شم
نن ئې وعده کړې ده، خوب کښې به جانان راځي

شکر په دې چې پېدا شوے مسلمان يمه
شکر دے، هر لور نه غږونه د اذان راځي

د زړهٔ باغچې ته مې بلها بلبلې راغللې
ارمان راځي خو فقط تا پسې ارمان راځي

خدايذده پېريان دي او که يار دے د کوټې په چت
غولې کښې ناست يمه، د پاسه نه ګلان راځي

د چـــــــا يادونه مې نيولي دي سينې پورې
مهجوره! څکه خوشبوئي مې له ګرېوان راځي

۱۷-۰۵-۲۰۱۹ رتنزئ

شپې وژلي شوي، په رښا وژلي شوي دي
دلته چې چا کړې ده ژړا ، وژلي شوي دي

هسې تښتېدلي وو له جنګه څو بزدل کسان
بیا وژلي شوي دي او بیا وژلي شوي دي

مونږ تل د اولس د ډېرېدلو دعا کړې ده
څوک دي؟ چې زمونږه په شېرا وژلي شوي دي

دلته مو په جاره چا په خولو لاسونه ایښي دي
دلته غږېدونکي برملا وژلي شوي دي

دلته پښتانۀ وژلے کېږي په خپل حق پورې
چا وېل چې د ښکلو په ادا وژلي شوي دي

دلته د مهجور په څېر یو څو قبرونه نور هم دي
تور باندې د مینې او وفا وژلي شوي دي

۲۰۱۹-۰۴-۱۷ بارکهان

چې ستا د قرب د کېفیت څخه وتلې یمه
د خپل نیکهٔ غوندې جنت څخه وتلې یمه

زهٔ یم شاعر د عالمګیرې نظریې خاوند یم
له" خپل "او" زئ "او قومیت څخه وتلې یمه

اوس د مجنون غوندې ګرېوان درپسې نهٔ بڅه کوم
اوس دې د مینې حراست څخه وتلې یمه

زما نامه لیکلې شوې ده، د بل چا سره
د تا له واک ،د تا قدرت څخه وتلې یمه

دا مې وهٔ ګام د محبت د منکرینو خلاف
چې پته خوله ئې جمیعت څخه وتلې یمه

هر څهٔ پوښته خو له مهجور د مهجورې مه پوښته
ایله بیله له دغ حالت څخه وتلې یمه

... ۲۰۱۸-۱۲-۲۹بارکهان

چې په خوله وائي، هم هغسې شاعران نۀ کوي
ځکه ډېر خلق اعتماد ئې په زبان نۀ کوي

د جمعې شپه ده، له خپل يار سره مې روغه وشوه
هسې عبث دي کوششونه رقيبان نۀ کوي

چې د خوار نس ته او يا لاس ته څۀ پرې اورسېږي
په خدا ے چې داسې بيانونه ملاجان نۀ کوي

زۀ له غربت د زمکې هغه سر ته تلے يمه
که څۀ شعور لري، ګيلې مې دې ياران نۀ کوي

چې مونږه اووينې نو والوځي او وچغېږي
په مونږ باور د غرۀ تنزري او زرکان نۀ کوي

مونږ په مخونو باندې هره بدرنګې تپلې
اسمان ظالم نۀ دے، که مونږ باندې باران نۀ کوي

د اوسني دور انسان د نړۍ مخ باندې داغ
داسې خو سپي نۀ کوي ، داسې خو کارغان نۀ کوي

زما او ستا د جدايۍ بلها موده وشوله
زړۀ مې خوربږي مګر څړيکې هغه شان نۀ کوي

مونږ همېشه د سر سړي دي په ګوليو ويشتي
مهجوره! هيڅوک مشري مو د کاروان نۀ کوي

۰۵-۰۱۰-۲۰۱۸ بارکهان

## دوه شعرونه

د امن سپين ګلان به څرنګ شي زرغون ورباندې
پښتون وطن کښې د سکروټو بارانونه شوي

د رتنزي مهجور برباد زړۀ پورې څله خاندې
په دغ ډګر د ډېرو ښکليو اتڼونه شوي

❁❁

د صبر جام به زۀ لالیه په سـ ـــــــــــر واړومه؟
ممکنه نۀ ده چې له تا به نظـــــــــر واړومه

ګوړګوتي زلفو کښې ئې مخ، لکه په وربځو کښې لمر
سترګې به څرنګه له داسې منظـــــر واړومه

له خپـــــــله وسه دې جانانه مینه پته ساتــــم
خــــوب نۀ رادرومي خو په ځان پسې ور واړومه

خدایے دې و نۀ کړي چې له تا څخه جدا شمه زۀ
ګني روژکي به له زړۀ او ځیګـــــــــر واړومه

زما فرهـــــــاده وروره ! اوس جدید ترین دور دے
نۀ پخلا کیږي ، که په ملا ورته غـــــــــر واړومه

خدایه ! په فن کښې د مهجور دومره خوارۀ پیدا کړې
چې له خــــــپل ضـــــد او له انا مرور واړومه

...۱۸-۰۸-۰۵ بارکهان

پــه خولـۀ لاس، پــه ستوني پښـه محسوسوم
بیــا هــم ژونــد تــه تلوســه محســوســوم

محبــت مــې انتهــا تــه رســېدلے
ســتا ځپېــړه هــم خــوږه محســوســوم

پرسـتش د سـپوږمۍ نـۀ کـوم خـو بیـا هـم
چـې ئــې ګــورم نــو هغــه محسوســوم

کړاوونــو تــه د ژونــد یــوازې نــۀ یــم
څــوک ملګــرے راســره محســوســوم

مــا پــه خپلــه بانــدې خپلــه ژبــه پــرې ده
ګنــې ســتا ترخــه لهجــه محسـوســوم

کــه دې هــر څــو آئینــه محسـوســوم
خپــل تصــویر درکښــې اُلټــه محســوســوم

ژوندہ! کومو پړاوونو ته داخل شوې
په حادثې پسې حادثه محسوسوم

تر جانانه مې غږ نهٔ رسي مهجوره!
ویرِ جهان لکه پنجره محسوسوم

...۲۰۱۹-۰۲-۱۷بارکهان

## دوه شعرونه

یاداشت مې زورور دے، که دا تهٔ ډېر زورور ئې
سپین ږیرے شوم خو بیاهم ستاکیسې راته یادېږي

بچپن کښې که ستا یاد وي، د مکتب په دېوالونو
لیکلې د یو بل به مو نامې، راته یادېږي

داسې يو کار دے چې دا زړۀ مې ببخي کار نۀ کوي
خود به ئې نۀ کوي چې غږ راباندې يار نۀ کوي

اوس وخت بدل دے ، تقاضې د مينې هم بدلې
اوس په ګودر کښې څوک يو بل ته انتظار نۀ کوي
د کلي هرې زړې ښځې راته زوے اووئيل
مورې! يوه هم راته ستا په شانې ځار نۀ کوي
د تا نامه مې پوره سل ځله پرې چف کړله خو
مئين زړګے مې ستا بغېره هيڅ قرار نۀ کوي
تل مو شعرونو کښې ستايلې پردۍ خوئيندې لونړه
خلق څۀ ګرم دي که په مونږه اعتبار نۀ کوي
اے د چرچڼو له آزاره يرېدونکو خلقو!
ستاسو څۀ خيال، پښتنې مئيندې به ازار نۀ کوي؟

يُو پښتانۀ خو مونږ وسله ده د پښتو بايللې
مهجوره! ځکه خو مغل له مونږه ډار نۀ کوي

۲۰۱۸-۰۱-۰۲باركهان

زما کیسه، زما اسلوب ،زما وینا احتجاج
ستا د ستم په خلاف زهٔ یم سراپا احتجاج

چې تهٔ ئې نهٔ حس کوې، دا به بې بختي وي د دوي
ګني هر څوک ویني د زړکو د چغا احتجاج
تهٔ مې که بیا وغندې ،بیا وغندې،بیا وغندې
زهٔ به کړم بیا احتجاج، بیا احتجاج، بیا احتجاج
کیسه د خدا ے د پاره ښه وي، غندل دغسې وي؟
هسې نهٔ وکړي جنازو نه مو ملا احتجاج
عجبه کس یم، د ژړا سره مې روغه وکړه
عجبه کس یم چې مې وکړ له خندا احتجاج
زمونږ په سترګو دي خورې د بدرنګیو دوړې
زمونږ مخونو څخه کړے دے ښکلا احتجاج

مهجوره! څومره زر بدل شول د دې دور یاران
په نیمه لار ئې رانه وکهٔ لکه ساه احتجاج

۲۰۱۹-۰۳-۰۲باركهان

لکه پردي زوے نه چې خپله لورکۍ ښۀ ښکاربږي
داسې هر چا ته درسته خپله نظریه ښکاربږي

چا به د سر ورټیټولو جرأت نۀ وي کړے
خپل ټټر هر یوۀ سړي ته آئینه ښکاربږي

جبر به وي خو څۀ مو خپله روایات ناسم دي
دا چې په هر یو کور ، په هر دېوال مورچه ښکاربږي

د کور و بلب ته مې راګوري د تنقید په نظر
دغه سړے د چا چې خپله ډیوه مړه ښکاربږي

مسافرۍ کښې چرته لرې په دېوال سره څیره
سفر وهلیو ته په خدائے چې لوپټه ښکاربږي

تنها مهجور، مخالفت کښې ئې کلهمه دنیا
کوشش کوم خو په تندي مې اندېښنه ښکاربږي

۲۰۱۹-۰۹-۰۴بارکهان

د پښتـمني نـارې دې ګـونګې نـۀ شـي
دا اسـلامي نـارې دې ګـونګې نـۀ شـي

سـماعتونه مـو خوشـبو خوشـبو شـول
د پسـرلي نـارې دې ګـونګې نـۀ شـي

زۀ ورتـه اوس هـم لا وړوکـے ښـکارم
د دې سـړي نـارې دې ګـونګې نـۀ شـي

مـونږه بـه څرنګـه يـو بـل پوهـول
د شـاعري نـارې دې ګـونګې نـۀ شـي

سـترګې دې هـم پـه اشـارو وي بـوختې
خـو د زړګـي نـارې دې ګـونګې نـۀ شـي

مهجـوره! ژونـد کښـې اضـطراب پکـار دے
د آزادي نـارې دې ګـونګې نـۀ شـي

رتنزئ۲۰-۰۵-۲۰۱۹...

هغه مهجور نۀ يم ،بلها کمزورے شوے يمه
په ما يقين وکړه اشنا، کمزورے شوے يمه

نن مې ورېږ لور سره غبرګ په ټيليفون وژړل
نۀ مې منله، خو رښتيا کمزورے شوے يمه
جانانه ستا د بېلتانۀ تصور نۀ شم کوے
په نۀ کيسه راځي ژړا، کمزورے شوے يمه
تا خو وئيل، که ډېر کمزورے شوې، نو را به شمه
هله رادرومه کنه، بيا کمزورے شوے يمه
تا خو سر او خوزاوۀ، او دې وېل چې نۀ کېږي بس
او زۀ به څومره تر سبا کمزورے شوے يمه
پوره اتلس پسرلي مې په پردېس واړول
اوس هغه نۀ يمه ليلا، کمزورے شوے يمه

حالات څۀ داسې دي چې نۀ شمه درتللے مهجور
ګني دا نۀ چې په وفا کمزورے شوے يمه

جون ۲۰۱۸ بارکهان

په ما جانان پرې ایښې نۀ په ما ملا پرې ایښې
نشه هیڅ حل نۀ دے، جامونه مې په دا پرې ایښې

ما په هر ځل پردېس نه ښې ډېرې روپۍ راوړې
ما په هر ځل کورکښې یو څوک دي په ژړا پرې ایښې

ملا! څۀ وکه، په څۀ چل خو ئې روا که راته
چې مې د چا دپاره واړه ناروا پرې ایښې

ښکار د جمود شوله زمونږ د پرمختګ قافله
د قام دپاره مو خوبونه د رڼا پرې ایښې

مونږ که هر څومره پټوو له تا غربت او فقر
خو په څهرو مو نشانونه دې بلا پرې ایښې

مهجوره! ما ده تل د نورو درملنه کړې
مهجوره! ما دي خپل زخمونه بې دوا پرې ایښې

...۱۸-۱۲-۱۲د سفر دوران کښې

شاید چې زړونه به ئې ستا په شانې سپین نهٔ وي
ګني دا نهٔ ده چې دې ښار کښې به حسین نهٔ وي

په اوربدو پښو، تېرې مښوکې باندې کار نهٔ شي
په رنګ ئې څهٔ چې ئې خویونه د شاهین نهٔ وي
زما دعوه ده، چې بل څوک تر تا حسین نشته
که چرته وي هم بیا به ستا غوندې شېرین نهٔ وي
ستا په لیدو مې دې روانې شي رڼې اوښکې
کله دې اوري هم، آسمان دې داسې شین نهٔ وي
زما د ژوند هره لحظه ده له محشر ماخوذ
په خدا ے باور وکه، په ما دې که یقین نهٔ وي
زما لالے، زما په څنګ کښې روان ښهٔ ښکاري
دا خزانه دې چرې هم زېرِ زمین نهٔ وي

مهجوره! زهٔ د دې جدید دور جدید مجنون
مینه کوم خو چې د ځان پکښې توهین نهٔ وي

... ۲۰۱۹-۰۴-۲۰بارکهان

چې د تا غونډې لیلا مې ده موندلې
منفرد شوم، ځانګړتیا مې ده موندلې

د بل درد محسوسومه لکه خپل درد
دغه لړه شان رڼا مې ده موندلې
یار په خپلو غلطیانو پښېمان شو
خوشخبري د سپین سبا مې ده موندلې
شپون زما د تخیل پکښې ټپې کړي
جزیره ستا د ښکلا مې ده موندلې
دا چې زۀ ئې په هر ښکلي باندې پلورم
زندګي ډېره وېړیا مې ده موندلې
د بریا ډیوې مې بلې دي تندي کښې
ستا د سپینې خولې دعا مې ده موندلې

مهجور ځکه په یارانو کښې ممتاز یم
د بېتن نیکۀ همسا مې ده موندلې

۲۰۱۹-۰۸-۲۱بارکهان

زړۀ کښې مې اوسي هم په ټنډه لکه خال ئې ساتم
جانان ساتم خو په بېل رنګ او په کمال ئې ساتم

زما د دغه عقيدت انداز دې خوښ شو که نا؟
دا چې بنګړي ئې ښکلوم، د مړوند خيال ئې ساتم

زۀ د خپل زړۀ له قاتل بل رنګ انتقام اخلمه
چېه او ځوړند تصويرونه په دېوال ئې ساتم

چا چې له ما نه زړۀ په زور وړے دے هغه سړے
په لاس رانغلے خو يادونه يرغمال ئې ساتم

جانانه! ستا د وړوکوالي هغه شوخ عکسونه
ما د لېمو بتهوه کښې ايښي دي سمبال ئې ساتم

ورو ورو لګيا يم، خوربوم پرې زهر زهر ژوندون
خاطرې ځان سره مهجوره! د وصال ئې ساتم

۱۱-۰۷-۲۰۱۸ ......بارکهان

پـه دې ئې نـهٔ يمـه چې خولـه او يـا ګلاب راكړي
د مئين څـومره حق د ے، هغـه دې جنـاب راكړي

زهٔ ګناهګـار څـومره يم، مانـه دې حسـاب واخلي
هغه رحيم څومره د ے، ماتـه دې حسـاب راكـړي

بې لوڅـه مينـه كـوم زهٔ د خپـل اولـس سـره
نـهٔ غـوارم دا چې څوک تمغـه د انقلاب راكـړي

د منډو تـرړو پـه بـدل كنبـې بـه دې ديـد غـوارم
مـلا بـه هسـې لالـچ ماتـه د ثـواب راكـړي

قسـمت لـه مـونږه سره تـل عجبـه چـل كـړ ے
لاس د ملنـګ راكړي او زړونـه د نـواب راكـړي

پـه مونږ دې نـهٔ تقسـيموي څـوک د راشـن تـرورې
مونږ ته قلم پكـار د ے، مـونږ تـه دې كتـاب راكړي

مونږ د ټوپکو يارانه کړې ده ټول عــــــمر
وختونه ګرم نۀ دي که مونږه ته عذاب راکړي

اک يو وېښتۀ به د جانان مهجوره! ور نۀ کړم
که په يو لاس کښې ثوک آفتاب، په بل مهتاب راکړي

۲۰۱۹-۰۳-۲۳بارکهان

## دوه شعرونه

زۀ جلد باز يم، خفه نۀ شې، وينې نۀ چې راته خاندي
دلته دوه قدمه لار ده، ستا جنت ته لار اوږده ده

ما د پلار و نيکۀ توره تېکه کړې ده مهجوره!
په يو لاس کښې مې قلم دے، په بل لاس کښې مې جنډه ده

پـه چا د کـاښي کـه پـه چا د ګـل ګـوذار وشـي
هر څۀ دې وشي خو پـه خوښـه دې د يـار وشـي

هـاے! د سبا تـکـے دې څرنګـه اسـان وکـۀ
الله خبـر چـې لـه مـا دومـره انتظـار وشـي

مـا دعـا غـوښـتـې وه د سيمې د ښـکلا لـره
دا خو مې نۀ غوښتل چې دلته دې کوکنار وشـي

مـا پـه نـارو نـارو ځـان سـتړے کـۀ دې خلقـو تـه
مينـه دې وشـي، هسې نـۀ چـې کـاروبـار وشـي

ستا پـه هجران کښې يو غېبي غـونـدې اواز اورم
"هلـه !بس درغلـم کـه لـړ غـونـدې دې وار وشـي"

مهجوره! څۀ عجبـه وخت کښـې پـېـدا شـوے يـم
کلـه نـا کلـه مې لـه خپلې سائې ډار وشـي

...۲۰۱۹-۰۱-۲۴بارکهان

❁❁

څو ببري دي، څو ګلونه ،څو انار دي
ما کرلي يو څو بوټي مېوه دار دي

علم ډېر دے، خو شعور دلته ناياب دے
لکه خرونه کتابونه په مونږ بار دي

ډېرې خولې دي ، چې په غوږو مې اخته دي
ډېر بغَور دي، چې په وينو مې سنګار دي

هغه خوار دے، چې کرلي ئې بادام دي
هغه مست دے ، چې کرلي ئې کوکنار دي

د" چنګېز "او" هلاکو "حـــــکمراني ده
خاموشي ده، ژبې ګونګې د اظهار دي

دلته ټول خلق د" زۀ "په رنځ اخته دي
د خپل ذات په دېوالونو کښې ايسار دي

د قسمت لیلا تر اوسه پخلا نهٔ شوه
ګرېوانونه څهٔ چې زړونه مو تار تار دي

همسایه شومه مهجور د داسې خلقو
ظاهر روغ دي، خو ذهنونه ئې بیمار دي

۲۰۱۹-۲-۰۴-۲۰ بارکهان

## دوه شعرونه

اکثر یم په موسم د بارانونو کښې ملال
اکثر مې بارانونه، د ماضي دنیا ته وړي

یو ګل مې اوچې کړې د زړهٔ وینې وې پخوا
دا ځکه مې ګلونه، د ماضي دنیا ته وړي

پـه طنزيـه مسـکا د خلقـو زړونـه مـه مـاتوه
زړونو کښې خدا ے اوسي،د خدا ے کورونه مه مـاتوه

زۀ اعتـراف سـتا د جمـال د دبـدبې کومـه
پـه تـرش نظر مې د لېمو جامونـه مـه مـاتوه

سـتا د تنقيـد ترتـړې ژبـه دې روانـه اوسـي
لکـه د شـوخ ماشـوم د کـار څيزونـه مـه مـاتوه

بايد چې خيال کښې وساتۀ شي د ګودر تقدس
لکـه مـنګـے د پښـتنو رسـمونه مـه مـاتوه

وختـه! خالي مې دې کړې لېچې خو يو سوال کومـه
چې د بنګړو سره مې سپين لاسونه مـه مـاتوه

حسـاس مهجـور ببېتـنے و بـه کـړي بې واره چغـې
ګلچينـه! ګـل سره تنکي ښـاخونه مـه مـاتوه

کاسه د خپل وصال تر دېوالۀ نۀ راکوي
لاسونه راکوي خو بارې خولۀ نۀ راکوي

شاید چې ئې لیدلے دے زما د مینې حال
هوښیاره ده ، کم عقله نۀ ده، زړۀ نۀ راکوي

ساتي مې همېشه د خپلو زلفو معترف
حېران یم و ژباړلو ته بانۀ نۀ راکوي

تقسیم باندې به ولې د خدائے نۀ یمه حېران
پښتو ئې راله راکړله، اوړۀ نۀ راکوي

انسانه! ستا له شره فرښتې نۀ دي محفوظ
لائق ئې یو، که خدائے راله واړۀ نۀ راکوي

مهجوره! بیمارانې سترګې مرېمه هر وخت
هغه ماته د خپل دیدن رانجۀ نۀ راکوي

جولائي ۲۰۱۷ رتن زئ

چې برملا هر یو زیاتي ته زیاتے اووایمه
ملګرو! هله به و ځان ته ژوندے اووایمه

کوډې پرې وکړي، ښکلي خلق کړي په تورو مئین
و دې ملا ته زۀ چرګے که برګے؟ اووایمه
په دې خبره باندې تل هغه خفه وي له ما
دا چې و هر یوۀ حسین ته لالے اووایمه
اختلافات پېدا کوې د انسانانو تر مېنځ
په کومو سترګو به و تا ته سړے اووایمه
د دنیا هره یوه ګندګـــــي د تا دننه موجود
انسانه! تا ته به د خاورو کودے اووایمه
زما په وینو زرغون شوي د دې دښتو ګلان
بې حسه نۀ یم چې به دې ته سپرلے اووایمه

د ژوند لانجو ته مې ئې کښېنښود د پایې ټکے
مهجوره! څنګه به هجران ته مرګے اووایمه

جولائي ۲۰۱۹ بارکهان

لکه مهے د ژوند تالاب کښېږ تادي نۀ کومه
زۀ د يارانو انتخاب کښېږ تادي نۀ کومه

هره حادثه د ژوندانۀ بلها پوښتنې لري
زۀ ورته غلے يم، ځواب کښېږ تادي نۀ کومه
دا مې عادت دے، چې په يو مخ باندې لولم کتاب
خو ستا د سپين مخ په کتاب کښېږ تادي نۀ کومه
سرې سرې ته گورم، ځاے ځاے ته هم فکر کوم
ايزده مې دي خو" جي جناب "کښېږ تادي نۀ کومه
د مېخانې او د جومات په فرق ښۀ پوهه يم
شېطانه ! " تف لعنت"، محراب کښېږ تادي نۀ کومه
زۀ دې گټم خو پنهولو ته دې نۀ ورکوم
تا سره ځکه په حساب کښېږ تادي نۀ کومه

مهجوره! ماته د موقعې د نزاکت احساس دے
دا چې د باد غوندې حباب کښېږ تادي نۀ کومه

۱۸-۱۱-۲۲بارکهان

❁❁

چې په تا خور شم د رڼا غونډې آزاد نهٔ يم
چې تا ته غېږ درکړم، د تا غونډې آزاد نهٔ يم

چې دې پلو واخلم او لاس دې په جبين تېر کړم
زهٔ خو پابند يم، د هوا غونډې آزاد نهٔ يم

زهٔ دې د خلقو نه د خوب ملاقات پټ ساتم
پښتون مئين يم ، د هر چا غونډې آزاد نهٔ يم

زهٔ يم شاعر، په کنايو، په اشارو پوے شه
زهٔ د خندا او د ژړا غونډې آزاد نهٔ يم

چې په چا کاڼي وروم، يا به فتوې په چا
زهٔ د طالب او د ملا غونډې آزاد نهٔ يم

مهجوره! زهٔ يم د څلور ويشتو ګېنټو نوکر
مهجوره! زهٔ د دې دنيا غونډې آزاد نهٔ يم

۲۰۱۹-۰۹-۰۱ بارکهان

یوه ساله، یو منګې دې، بل رباب دې
که حساب غواړې نو دغه دې حساب دې

تهٔ زما نه سیاسي پوهنه غواړې
زما لاس کښې د لیلا مجنون کتاب دې
د سکون توری د عشق لغت کښې نشته
اضطراب دې،اضطراب دې،اضطراب دې
نهٔ سپوږمۍ ده، نهٔ عقیق دې، نهٔ ګلاب دې
هغه زهٔ چې پرې مئین یم، لاځواب دې
مکینان د جنتونو ئې آرزو کړي
د جانان په یادولو کښې ثواب دې
حېراني ده، مقدسه ضرورته!
را پرې اینبے مې په تا پسې محراب دې

په خوشبو پسې ئې ډېر ښکلي را ورک شول
د مهجور زړګې د عشق په اور کباب دې

۲۸-۰۵-۲۰۱۹رتنزئ

ژوند وۀ نعمت، له دې نعمته مې خوند وا نخستو
جانانه! ستا له محبته مې خوند وانخستو

خدايه! د تا په دې دنيا کښې به زۀ څۀ خوشحال شم
جنت ته لاړ وم، له جنته مې خوند وانخستو
زۀ خپل قسمت همېشه لرې ترې ساتلے يمه
چې له شباب او له زينته مې خوند وانخستو
د ژوند مهم سپرلي مې ټول پردي وطن کښې تېر شول
له خپل وطن او له محلته مې خوند وانخستو
ما په خپل کور باندې بېرغ د چا او نۀ لګوۀ
شکر! د هيچا له نسبته مې خوند وانخستو
ناڅاپه راغلې او په سترګو دې را کېښودو لاس
د انتظار له اذيته مې خوند وانخستو

د خان بچو سره په زوره زوره خاندم مهجور
لورې! د تا له شرارته مې خوند وانخستو

۱۸-۴-۳۰بارکهان

❁❁

نۀ کاڼي اوري، نۀ په مونږ باندي ږلۍ وربږي
زمونږ په سیمه کښې بارود اوري، ګولۍ وربږي

بیا مې د غم څادر په ځان واچوۀ ،پټ شوم پکښې
بیا لکه پرخه په ما یاد د شین خالۍ وربږي
بلها تورسرې مو سرتورې شوې د دې په سازش
بیا هم نوټونه په دې پورې حوبلۍ وربږي
چا راته وېل چې پښتنو کښې دې شعور راغلے
په مخ مې اوښکې نن له ډېرې خوشحالۍ وربږي
ښکاري چې بیا هغۀ ګلاب پکښې وربل خنډلے
دا چې له خنډه سره ګلان مې له نیالۍ وربږي
بیا مازدیګر شو، بیا به آ لېونۍ بره خېژي
بیا به د هر چا نظرونه په بلۍ وربږي

د یار د تګ په وخت مهجوره !زما دواړه سترګې
اف! داسې وي، لکه باران چې په سیالۍ وربږي

۲۰۱۹-۰۱-۰۷ بارکهان

سوچ مقفل دے، تفکر ته مو زنځیر جوړ دے
تر دېوال سر نۀ چیګوو، دا مو ضمیر جوړ دے

کاواکه ګرځم، زۀ د کوم کوم نه بوسه واخلمه
د ښار په هر یوۀ دېوال د یار تصویر جوړ دے

شاید په چا ور تپل شوے دے غلط انتخاب
د زګیروي غږ رادرومي، کلي کښې مو وير جوړ دے

له هر طرف شي رالېږل ورته وحشي ګواښونه
محبت څۀ دے خو په مثل د کشمیر جوړ دے

یو زما مخ دے چې له اوښکو چرته نۀ شو خالي
یو د یار مخ دے چې خدا ے څۀ جنت نظیر جوړ دے

مهجوره! زۀ یو بې ضرره انسان وۀ اوسېدم
ما، نۀ غلېل جوړ کړے، نۀ چرته شمشیر جوړ دے

۲۹-۰۸-۲۰۱۹بارکهان

په مېکده کښې ،که محراب کښې اوسم
تا يادوم، په اضطراب کښې اوسم

پورته کوي چې ستا په مينې سوال
زۀ هغو خلقو ته ځواب کښې اوسم

په سرِ ورق ئې زما نوم ليکلے
تل به د تا د زړۀ کتاب کښې اوسم

د حرص ، طمع او لالچ نه لرې
يمه ملنګ خو آب و تاب کښې اوسم

زيارت چې ستا د څهرې نۀ شم کوے
څۀ پښتونخوا کښې، که پنجاب کښې اوسم

د بېتې نيکۀ لمسىٍ! خوشحاله اوسې
خبر دے، مهجور که په عذاب کښې اوسم

۲۳ ستمبر ۲۰۱۱ سي ايم ايچ کوټه

شاید چې د یارۍ په معیار نهٔ یمه پوره
ښه نهٔ ده؟ چې قلار کښېنم یار، نهٔ یمه پوره

تعجب نهٔ دے که نهٔ مې کوي دا خلق عزت
له خپله کوره زهٔ هم نګار نهٔ یمه پوره

انسان یمه ، عاجز یمه ، نیمګړے یمه یار!
ماښام هم پوره نهٔ یم ، سحار نهٔ یمه پوره

له ما سره نور څهٔ دي بې شډلې نظریې
په تول باندې د نوي بازار نهٔ یمه پوره

له دغې وجهې ځان مې کړو تر کور پورې محدود
یارانو سره زهٔ په سنګار نهٔ یمه پوره

مهجوره! ما ورکړے دے هر چا ته بېل بېل زړهٔ
دا ځکه خو په شمار و مقدار نهٔ یمه پوره

۱۸-۷-۲۰بارکهان

له کلي لرې يم او جنګ هم را په سر دے وروره!
له ما نه څۀ پوښتې ، سفر پسې سفر دے وروره!

له خولې مې وتې چغې بېرته سلامتې راغلې
وروستو درياب دے، مخامخ د کاڼو غر دے وروره!
زما وجود چې ګڼې سپک لکه د ماشي وزر
له داسې خلقو سره هم زما ټکر دے وروره!
زما د زړۀ د بيمارۍ نه يو تۀ نۀ ئې خبر
الله خبر دے چې نور ټول کلے خبر دے وروره!
د مور او پلار له دعاګانو دې محروم کړلو ځان
مرورېږه مه خو بخت دې مرور دے وروره!
د يار تر کوره هرې لارې کښې ماينونه ښخ دي
څۀ يارانه ده؟ خو د سر پکښې خطر دے وروره!

شاعر به وي خو مهجور هغ مقام ته نۀ رسېږي
نۀ فلسفي دے، نۀ ملک ، نۀ زورور دے وروره!

۲۰۱۹-۰۲-۲۵بارکهان

ورسره مل چې د واکدار او د ملک لاس دے
زما د قام په بربادۍ کښې د ټوپک لاس دے

تۀ ځکه دروند ئې، چې درنه پیسه په لاس درځي
زۀ چې پیسه نۀ لرم ځکه خو مې سپک لاس دے
الله دې وکړي چې ښۀ اووزي د دې خوب تعبیر
خوب مې لیدۀ چې مې په لاس کښې ستا نازک لاس دے
زما او ستا په محبت کښې رقیب کار لري
زما او ستا په بېلېدو کښې د فلک لاس دے
په بل مئینې په ډولۍ کښې خودکشي وکړه
تک سور لړلے نن په وینو د ناوک لاس دے
زۀ د مجنون غوندې ازاد او بختور نۀ یم
درغزولے مې جانانه تر پاټک لاس دے

شاید چې ګوتې مې لایقې د قلم نۀ وې
دا چې تنهاکې مې مهجوره! په خټک لاس دے

۱۸-۰۳-۲۰۱۹ بارکهان

چې دې مئينو کښې شمار شوے يمه
بېکاره نۀ يم، د کار شوے يمه

درځم چې وکړم ستا د مخ تماشه
مازديګرے دے، وزګار شوے يمه

ستا د کوڅې د ماشومانو له لاس
جانانه! څو ځل سنګسار شوے يمه

ما د ژوند هر يو کار په وينه کړے
زۀ، نۀ نشه نۀ خمار شوے يمه

ژوند کښې چې څومره حادثې رادرومي
ورسره زۀ هم بيدار شوے يمه

وېل ئې مهجوره! زړګے نۀ درکوم
وېل ئې مهجوره! هوښيار شوے يمه

۱۸-۶-۲۷بارکهان

دا په غونډی د تکبر چې مې اشنا ولاړ دے
دا کېدے نهٔ شي، څوک ضرور د دهٔ په شاه ولاړ دے

ظالمه ! پرې اېږده، لمبې به ئې در واخلي وجود
دا زما زړهٔ د حوصلې په انتها ولاړ دے
دا بې غرضه مسکیتوب، په دې بخیل دور کښې
دا یو صفت ستا په جبین لکه رڼا ولاړ دے
حېران دریان یم چې د ځان که د بل وکړم ملا تړ
د ژوندون جنګ دے، هر سړے جلا جلا ولاړ دے
د پښتانهٔ لالي انا او ضد ته سور سلام دے
په کور کښې زوړ شو خو په ټکي لا د" نا "ولاړ دے
دا به بې لاسو او بې پښو نهٔ وي، بې حسه به وي
چې ئې رټلے دے، هغوي ته په خندا ولاړ دے

مهجوره! زهٔ د وخت لمرونو ته یار پرېښښودم
چترۍ چترۍ زما په سر لکه دعا ولاړ دے

۱۹-۲-۰۷ بارکهان

چې زۀ شعر اووایم، او هغه راته داد راکړي
دا هغه څۀ دي، چې و ماته اعتماد راکړي

هسکه شمله چې د جانان په کوڅه تېر شمه
آسمان به کله ماته دومره استعداد راکړي
و دې کړي خدا ے چې شي مې لره بره خور غزل
له دې نه مخکښې چې څوک نوم د اروانښاد راکړي
توبه توبه! نۀ زړور نۀ مېلمه پال يمه
دنيا به هسې لقــــبونه نام نهاد راکړي
خوب مې ليدۀ، په وينو سور يمه ټوټې ټوټې
خوبونه هم ما ته تصوير د خپل هېواد راکړي
زما د پلار ګټلې ټوله شه د ورور نـــــصيب
د مور په غېږ کښې دې يوه لوېشته جائيداد راکړي

مهجوره! هسې خو جنډې دي په قبرونو ډېرې
کوم يو زيارت به وي چې ما ته خپل مراد راکړي

۲۰۱۹-۰۳-۲۷بارکهان

و ماته نشته د چمن او د ګلشن ضرورت
ژوند مې تربت شو، ما ته دے د اکسیجن ضرورت

یواځې هغه دے، چې زۀ ورته اړتیا لرمه
یواځې سوله ده چې دے مې د وطن ضرورت
کم از کم دومره چې ذهنونه پکښې نۀ وي غلام
محسوسومه د یو داسې انجمن ضرورت
یو وار را وګوره چې، دے مې د بدن ضرورت
خبر دے پوره کړه بیا د دار او د رسن ضرورت
ټوټې ټوټې مې کړه په سپینه لوپټه کښې راټول
د قام شهید یم، ماته نشته د کفن ضرورت
کله مسکا، کله دې ناز، کله دې غوا‌ړې ادا
اک یو الله دې کړي پوره ستا د مئین ضرورت

تۀ د مهجور ئې ضرورت، مهجور د تا ضرورت
او بیا دا دواړه د دې کور د دې چمن ضرورت

۲۹-۰۱-۱۹ بارکهان

❁❁

يار ولاړ مې د غرور په پتنې ښكاري
دا چې ګل مې ورته خړه كركڼ ښكاري

زۀ او يار ئې يو جوړه سره ليدلي
فطرتي ده، رقيبان به ممڼ ښكاري

چې زمونږ خلاف كوي بغاوتونه
هغه خلق راته ولې سجڼ ښكاري

بيا مې اوليدۀ جنت د ستني سپم نه
بيا دې مخ د حوبلۍ له چڼ ښكاري حوېليې

دغه پېغله د څونۍ په ارمان مړه وه
دا خوارۀ ئې چې په قبر داوڼ ښكاري

د يعقوب غوندې مې يار پسې نظر لاړ
خپل تصوير راته مهجوره! بڼ بڼ ښكاري

...۱۹-۱۰-۱۲باركهان

اور هغه اور ،چې د يو چا د تودېدو باعث شي
ورک هغه اور شه چې د چا د سوځېدو باعث شي

تر خولې دې ځار شمه، د خولې سره دې پام کوه ډېر
ځينې خبرې د قامت د ټيټېدو باعث شي

آباران خوند کړي، چې د يار د تم کېدو باعث شي
نهٔ آباران، چې مې د کور د ورانېدو باعث شي

دنګه ماڼۍ دې که هر ښو ده، د غرور علامت
خو کله کله ستا د سپين مخ د ليدو باعث شي

ځينې يادونه مې و زړهٔ ته تقويت ورکوي
ځينې يادونه مې د زړهٔ د نړېدو باعث شي

مهجوره! تل مې دې په دې امېد غزل ليکلے
شايد چې دا زما د قام د ويښېدو باعث شي

جون ۲۰۱۹ رتنزے

❁❁

خدايذده چې ولې دې بيا موډ و بهانې ته جوړ دے
راشه باران دے، موسم هم و يارانې ته جوړ دے

نور عکس فرضي دے، خو دوه سترګې پکښې ستا دي صنم
دا کوم ټايټل مې چې د زړۀ و کتابچې ته جوړ دے
کټ مټ زما د زړۀ تصوير دې مصوره ساز دے
وينې ترې څاڅي، تبرۀ غشے ئې سينې ته جوړ دے
زر ده چې ما نه به شي ورک پکښې دا خپل زړګوټے
چا دغه پارک شايد چې دغې حادثې ته جوړ دے
خدايه په مړينې مې محتاج مه کړې د چا د اوږې
په خپل ژوندون مې کټ و خپلې جنازې ته جوړ دے
مهـــــجوره! تل صفا کوه پرې د ګناه ګرد ونه
د استغفار رومال د زړۀ و ائينې ته جوړ دے

دې زمانې سره ئې هيڅۀ چلند او نۀ شولو
الله خبر چې مهجور کومې زمانې ته جوړ دے

۱۹-۰۲-۲۲ بارکهان

مشاعرۍ ته شمه لاړ؟ که مزدورۍ ته لاړ شم؟
اک یو سړے یم، زۀ به کوم کوم یوۀ جي ته لاړ شم

مزدوره یاره! ستا د پرې ګوتو نه واخلم بوسه
چې درته اوګورم، نو زۀ خپلې ماضي ته لاړ شم؟

زۀ د هغې سره پوره کړم خپله کړې وعده؟
بیمارې مورې! که د تا و دوائي ته لاړ شم

تا خودکش وکړه، د جنت و منارو ته لاړې
زۀ دې یتیم کړمه، د چا و انغرې ته لاړ شم

نیمه خندا رانه ایساره شي د خولې دننه
په تخیل کښې چې و خپلې غریبي ته لاړ شم

بلها ښبرې مې په پلو پورې راغوټه کړي خو
مهجوره! بیا هم ایسار نۀ شم، نوکرۍ ته لاړ شم

جون ۲۰۱۹ بارکهان

❁❁

ریبار وائي چې هغه بیماره ده
وایم، درسته زمانه بیماره ده

هره ورځ رانه ملګري مرور وي
زهٔ یم روغ، زما لهجه بیماره ده
بڼه بڼه، بڼه بڼه راته لګي
یوهٔ مخ پسې شیشه بیماره ده
زهٔ پینځهٔ زره کالونه پخوانے یم
دعوه شته خو حواله بیماره ده
له مخونو ئې مسکا ده تښتېدلې
د یارانو روّیه بیماره ده
تکه زېړه د آکاس غوندې اوښتې
تا پسې زما ښهره بیماره ده

عیادت ته ئې بلها ښکلي راغونډ دي
د مهجور د زړهٔ کوټه بیماره ده

باركهان ۲۰۱۹-۰۴-۱۰

خبره داسې ده، چې ګرانه ده، خو څۀ به وايو
باچا! د تا له لاسه ورانه ده، خو څۀ به وايو

څۀ هلاکو او چنګېزخان هم نازل شوي دي پرې
څۀ معاشره هم بې زبانه ده، خو څۀ به وايو

جانان ګرم نۀ دے، په معيار ئې مونږه نۀ يو پوره
ګيله مو ټوله له خپل ځانه ده، خو څۀ به وايو

لکه د ناز ډکه حسينه، په شاه نۀ را ګوري
زندګي لاړله، روانه ده، خو څۀ به وايو

زمـــــا په ټنډه لګېـــدلې ده ټپه د غربت
دے ډک بازار، سودا ارزانه ده، خو څۀ به وايو

مهجوره! مونږ يو ارتقا ته د وختونو حېران
زمانه مونږه ته حېرانه ده، خو څۀ به وايو

۱۸-۰۴-۲۰۱۹ بارکهان

دغو غوړو د هغې غېږ، لا اوربدلے نۀ دے
ما له خپل ځان د" ادې "غېږ، لا اوربدلے نۀ دے

عجبه نۀ ده، که ایمان د شېخ نڅا نۀ کوي
دې خوارکي، د چمبې غېږ، لا اوربدلے نۀ دے

زما غېړونو ته نیولي ئې دي څک غوړونه
او ما د دې فرښتې غېږ، لا اوربدلے نۀ دے

زۀ باوري یم چې ترې خېژي به مې شور د نامې
تا جوړ د خپلې سینې غېږ لا اوربدلے نۀ دے

توکر توکر ئې کړې د زړونو، د مخونو شیشې
جانان د خپلې لهجې غېږ لا اوربدلے نۀ دے

لا پورې دے حسابوي د خپل تېر زخمونه
مهجور د دې زمانې غېږ لا اوربدلے نۀ دے

۲۰۱۹-۰۸-۰۹بارکهان

کہ نوے نۂ وي، نو زوړ خیال پہ نوي رنګ راوړه
د تخیّل پہ زور شعرونو کښې آهنګ راوړه

د غېر پہ مخکښې کہ بانۀ قدرې ځمبې نۀ شې
د ورور پہ وینو باندې خپلہ توره رنګ راوړه

دلتہ سایې هم د خپل قد سره سیالي کوي
دلتہ کہ قد راوړوې، دوه ګوتې ئې دنګ راوړه

دے مې ارمان خوشبو د چا د خولې جن بدن
چې لہ بازاره راځې، ځان سره لونګ راوړه

زۀ کلہ کلہ ورکوم پرې د سفر ستړیا
زۀ حلوا نۀ خورمہ، قربان دې شمہ، بنګ راوړه

مهجور تہ جوړ کړه تخیلہ! د غزل سبب
د دوه مئینو مکالمہ، د بنګړو شرنګ راوړه

۰۵-۰۸-۲۰۱۹ بارکهان

دا چې زلفو کښې ئې ګل ټومبلے، وران دے
په دې ټول کلي کښې دغه ښکلے، وران دے

هغه ښکلے په يو څپر کښې اوسيږي
چې په چا پسې مې کور او کلے وران دے

يوۀ ښکلي هم له ما څخه وانخست
ما په لاس کښې جوړې ګل نيولے وران دے

د چم پيغلې خپل مخونه پورې مږي
د مرحوم مئين د قبر څلے، وران دے

څۀ نامه د تاريخ دې جبر ته ورکړم
خامخا ئې نوم زما ليکلے وران دے

په رخسار دې د مهجور د نسبت خال وۀ
جوړ په اوښکو دې صفا وينځلے، وران دے

رتنزئ ۳۰-۰۵-۲۰۱۹ ...

اک یو لالے دے چې د مینې ګلابونه وېشي
ګني نور ټول کلے لګیا دے، نفرتونه وېشي

څو چې اپلهیټ نۀ وي زمونږه د ذهنونو نصاب
هسې عبث خوشحاله یو چې کتابونه وېشي

سرونه څۀ چې قامتونه ئې راټیټ شول ورته
نهر اولس باندې د سرو ګلو هارونه وېشي

خدایه !اله دې عظیمې برخې نه مې مه کړې محروم
جانان لګیا دے په مئینو تصویرونه وېشي

تیارو کښې پټو بلاګانو ورته خولې وازې کړې
یو کس راغلے دے، ډیوې او لالټینونه وېشي

په خپل تاوان او په مرام لکه د غر ولاړ دے
ښار د بارودو دے، مهجور پکښې ګلونه وېشي

...۱۸-۱۲-۱۳ رتنزئ

۞۞

دا ویړ جهان د خدا ے په امر او قدرت جوړ شۀ
جنت، دوزخ ترېنه زمونږ په برکت جوړ شۀ

په لپو لپو اوښکې پاشم په څلور طرفه
د تا نه پس خو آبپاشي زما عادت جوړ شۀ

د نفرتونو په دې ښار کښې يم و دې ته حېران
څنګه؟ او چېرې نه جواز د محبت جوړ شۀ

اوس ئې له ما سره ده مله د بېلېدلو يره
وجود مې څۀ وۀ، د ساه ګانو يو وحدت جوړ شۀ

د زړۀ ګلاب ته مې چينجے د عشق ولګېدۀ
څهره مې زېړه شوه، سبب مې د زينت جوړ شۀ

مهجوره! مونږه د لفظونو په حصار کښې راغلو
زړونه پلورل، ګلان شيندل مو روايت جوړ شۀ

۲۰۱۹-۰۸-۲۴اسلام اباد

چې زۀ ترې تلے یم، په ما پسې یاران خفه دي
زما په دغې ترقۍ یو څو کسان خفه دي

چې زۀ یو څو میله د دوي نه مخکښې ولې لاړم
همدغه وجه ده چې ما نه ګاونډان خفه دي
دا چا ظالم په ګلشن وکړه د بارودو ږلۍ
ګلان ډنډر ډنډر پراتۀ دي، بلبلان خفه دي
شاید چې نۀ ئې شته ایمان د ورځو شپو په ګردش
دا چې په ګټې خوشحالیږي، په تاوان خفه دي
سفره! څنګه دې سپیرې غبرګې کښې واخستمه
دې ته هم نۀ ګورې چې څنګ مې ماشومان خفه دي
زما د زړۀ له کوره هغې سپوږمۍ کډه کړې
په چا پسې چې کلهم ستورې د اسمان خفه دي

شاید چې دوي ته به زما اوښکې روزې ورکوي
سترګې مې اوچې شوې مهجوره! رقیبان خفه دي

۲۰۱۹-۰۷ بارکهان

۞۞

ما باندې بوج دے ، دغه بوج مې دې جناب واخلي
جانان ته اووايئ، چې ما نه دې ګلاب واخلي

ګلمخي يار ته د هنداري ضرورت نشته
و دې ئې لولي، ځان سره مې دې کتاب واخلي
لکه ټکړه د کاغذ والوځي په ګڼ دوند کښې
هو بهو داسې مې جانانه اضطراب واخلي
داسې څوک شته دي؟ چې انځور کړي کېفيت زما
داسې څوک شته دے؟ چې له ما دغه عذاب واخلي
سيلۍ ته وايمه چې را دې وړي خوشبو د يار
سيلۍ ته نۀ وايم چې مخ نه ئې حجاب واخلي
هر يو حسين له ځان سره نوې فتنې راوړي
هر يو حسين رانه د ژوند واړه اسباب واخلي

مهجوره! زۀ کوم بلها د هر يو فن قــــدر
خو داسې هم نۀ چې مې هر بچے رباب واخلي

...۲۰۱۹-۰۱-۱۲ بارکهان

دے مینه غواړي او زهٔ مینې ته تیار نهٔ یمه
زهٔ د جانان شرارتونو ته وزګار نهٔ یمه

زهٔ د یو چا د همدردۍ حاصلول غواړمه
دا چې فریاد کوم، په اصل کښې بیمار نهٔ یمه

ستا په دیدن کښې مزه شته مګر نشه نشته دے
ګني تهٔ ټول په ما را ړنګ شوې او خمار نهٔ یمه

نهٔ مې په لاس کښې پیسه شته نهٔ مې تر څنګه جانان
د کار سړے یمه خو نن سبا د کار نهٔ یمه

په ژوندانهٔ مې چې د هجر په دوزخ کښې سېځې
ګناهګار یم خو مګر دومره ګناهګار نهٔ یمه

مهجوره! ځان سره مې پنډه مایوسۍ راوړې
خالي لاسونه زهٔ راوتے له بازار نهٔ یمه

۱۹-۰۴-۲۰۱۹بارکهان

حالات ځهٔ داسې دي چې هر څوک لېوني ښکارېږي
یوه عجبه حېرانتیا مو په تندي ښکارېږي

ما په تندي باندې خال کېښود د خپل زړهٔ د ایرو
لا مې زړګوټي کښې هوس د زندګي ښکارېږي
ځان ئې پخپله را ګوذار کړ د غرور له ماڼۍ
په دې سړي کښې یو ځهٔ څرک د بندګي ښکارېږي
همدغه دے زما د زړهٔ د نړېدلو آواز
دغه کوم ځهٔ چې مې و تا ته شاعري ښکارېږي
دے عجب وخت، محبتونو پکښې سر خوړلے
په هر یو سوچ د نفرتونو باچهي ښکارېږي
مخ رانه پټ کړي، مسلمانې اداګانې کوي
کافر لالي کښې مې همدا مسلماني ښکارېږي

ښکارم آزاد ، خو پابندي مې ده په ویر او ژړا
مهجوره! ما ته ژوند جدیده غلامي ښکارېږي

۲۰۱۹-۰۷-۳۱ بارکهان

خطا نه پس د خطاګانو اعتراف پکار دے
په هر صورت په هر قیمت عدل انصاف پکار دے

زما د میني ښاپېرۍ پکښې خاپوړې کړې
ماته هغه نۀ، ما ته دغه کوه قاف پکار دے

چرته چې صفر سره ضرب ورکېږي ستا انا ته
له هاغه ځاے، هاغه محفل نه انحراف پکار دے

یو څوک پکار دي چې مو اووینځي د مخ بدرنګۍ
نۀ چې نظام صرف د شیشې غوندې شفاف پکار دے

ما ته ټول عمر بیان شوي فضایل د مزل
څۀ نا څۀ ذکر د منزل او د اهداف پکار دے

مهجوره! هر وخت ړوند تقلید د رهبر نۀ دے پکار
د کاروان غړو ته هم حق د اختلاف پکار دے

۰۵-۰۸-۲۰۱۹ بارکهان

زما په بدې ورځې څرنګه مسکې دې خدایه!
زما د زړۀ په سر ولاړ لکه ازغې دې خدایه!

په پرهرونو کښې مې ګوتې وهي، خاندي راته
دا یم زۀ سور تپلې پروت، دا مې لالې دې خدایه!

شاید چې تا مې دې اخستې د کومک څخه لاس
د دې ځنګل هر یو ګیدړ راته زمرې دې خدایه!

ما ته راځي د هرې خوا نه د بارودو بدبو
که هر څو خلق دعوه کوي چې پسرلې دې خدایه!

ډېر مخکښې لاړل د دې دور، د دې نړۍ انسانان
خو یو د تا د معرفت پکښې کمې دې خدایه!

زۀ مسافر یم، تربیت د ورو نۀ شم کوې
حواله کړې مهجور تا ته خپل بچې دې خدایه!

۲۰۱۹-۰۸ بارکهان

بره ختونکے را ګوذار کړه، دې ته کار وئيل شي
هغه! چې دا هنر لري، ورته هوښيار وئيل شي

دلته خرڅيږي ملغلرې د ګيلټو په نرخ
زرپرست کلے دے، و زرو ته معيار وئيل شي

د دې رندې، کښې معاشرې حساب څۀ بل رنګه دے
دلته چې سر لري، و هغه ته سردار وئيل شي

چې هر ماښام غواړې له ما څخه د ورځې حساب
دې ته ياري نۀ وائي، دې ته کاروبار وئيل شي

له يوۀ کربه راتبربږمه له ډېرې مودې
له داسې کربه چې هغې ته انتظار وئيل شي

څۀ نا څۀ لچک دې مهجوره ! شاعرئ کښې پکار
ځکه چې دلته حق ويونکو ته غدار وئيل شي

۲۰۱۹-۰۸ بارکهان

عکس د برباد زړهٔ په تندي لګول نهٔ غواړمه
زهٔ دا الزام په خپل لالي لګول نهٔ غواړمه

ښکلي بلها دي خو يو تهٔ زما په درد خبر ئې
د زړهٔ پټۍ په هر سړي لګول نهٔ غواړمه

عجبه ذوق دے، د مجنون ميراث ته هم خوښېږم
په ځان تپه د لېوني لګول نهٔ غواړمه

داسې ورځ نهٔ وي چې په تور د مينې مړ نهٔ وي څوک
وئيل ئې، داو د زندګي لګول نهٔ غواړمه

زهٔ په خپل کور باندې ببرغ د هيچا نهٔ لګوم
زهٔ په خپل مخ توره سياهي لګول نهٔ غواړمه

مهجوره! زهٔ يمه قايل د بامقصده ژوندون
زهٔ د مزدور غوندې دياړي لګول نهٔ غواړمه

بارکهان

زما کتاب چې کله هغه لېونۍ اوګوري
دا مې یقین دے چې هر څوک به ئې سلګۍ اوګوري

شاید چې بیا ما سره نۀ شي وګُذران ته راضي
دا زندګي مې که تعریف د زندګۍ اوګوري

زما په پښتو شرتو دې تمامه پښتو نۀ توروي
څوک دې تاریخ زما د پلار او د ابۍ اوګوري

په چپي مخ باندې ئې نشته دے ذره قدرې داغ
زما د زړۀ له کور دې څوک زما سپوږمۍ اوګوري

زما د فن د مینه والو سره نشته دے وخت
چې به اړخونه دوي زما د شاعرۍ اوګوري

په خدا ے چې بیا ئې ورنه نیت د تللو نۀ دے کړے
مهجوره! څوک هم چې زما د زړۀ کیږدۍ اوګوري

ستمبر ۲۰۱۹......بارکهان

لګیا وۀ هر یو تن او هر چا ژبه زده کوله
هغۀ کله د مهروفا ژبه زده کوله

د سترګو نه را توې اوښکې ئې غروې کښې ډیوې شوې
یو تن تیارو کښې ناست د رڼا ژبه زده کوله

هوا د غریبت په مخ راکړې وې څپېړې
ځولۍ کښې مې د مور، د خندا ژبه زده کوله

په تتو اشارو به ئې تل ځان ته وربللم
په پېل کښې د تا هرې ادا، ژبه زده کوله

په اصل کښې شاعر پاتې کېدل زما مقصد وۀ
ما کله د قاضي او ملا ژبه زده کوله

مهجور مهجور نارې مې وې د تا نه اورېدلې
اشنا چې وړوکوالي کښې تا ژبه زده کوله

بارکهان ۰۸-۱۰-۲۰۱۹........

❁❁

له ځان خفه شمه، د ځان څخه ګیله هـــم کوم
زۀ کله کله دا ناویاته تجربه هـــــــم کوم

ستا د هـــــجران ماتم تر اوسه باقاعده لمانځمه
و نوي یار ته ستا د حسن تذکره هم کوم

زۀ د قفس دننه خوي کړم د آزادو خلقــو
لاس مې تړلي دي، د یار سره وعده هـــــم کوم

زۀ رسوایۍ څخه تر نورو خلقو ډېر وېرېږم
او د غزل په ژبه هر چا ته کیسه هـــــم کوم

زۀ په غزل باندې مئین یـــــم د جنون تر حده
خو چې له غرۀ دې کلے اووینم، ټپه هـــــم کوم

مهجوره! ما خپلې کوټې کښې دوې ډیوې ایښې دي
د یار د دید سره سره مطالعه هـــــــم کوم

بارکهان ۰۷-۱۰-۲۰۱۹......

مینه مې وکړه خو تر دار پورې ونۀ رسېده
ګمنامه پاتې شوه، اظهار پورې ونۀ رسېده

لکه د غر ئې احسانونه راته ودرېدل
ګیله مې وه خو تر نګار پورې ونۀ رسېده

زما په سر باندې یو خوف لکه اسمان ولاړ وۀ
دا چې غزل مې د معیار پورې ونۀ رسېده

خوله کښې دې نا ټکے را جوړ کۀ، بیا دې غبرګه راکړه
توره بلا وه خو تر وار پورې ونۀ رسېده

د غربت غرونو ما ته خپله چغه بېرته راوړه
وه زوروره خو بادار پورې و نۀ رسېده

مهجوره! زۀ د تاړو شور کښې ستېج ته ورغلمه
ټپه مې وکړه خو تالار پورې ونۀ رسېده

باركهان ۰۱-۱۰-۲۰۱۹......

زۀ دا منم چې د چم ښکلي ګلان نۀ راکوي
خو دي ډاډه چې دا سرے به تاوان نۀ راکوي

تکلف نۀ غواړم مننه! خو بس دومره ده چې
ماته دهوکه، ماته فرېب دې ياران نۀ راکوي
ممکنه نۀ ده چې ځان اوباسي زما له خياله
يار دې تکړه شي او تصوير دې د ځان نۀ راکوي
مونږ خپلې اوښکې په هوا د حوصلو وچوو
رومال د جار دې خبر دے مونږ ته جانان نۀ راکوي
ماته دې نۀ راښکاروي د خپل اولاد جنازې
دا يو تکليف دې زما زړۀ ته اسمان نۀ راکوي
دغه سپين ختي خفه کېږي مو په سپينو کيسو
ځکه خو مونږ ته آزادي د بيان نۀ راکوي

زما د زړۀ آواز دې واوري د خپل زړۀ په غوږو
مهجوره ياره! خبر دے داد دې جهان نۀ راکوي

رتنزئ۲۴-۰۹-۲۰۱۷........

د سترګو په بڼو کښې څو ډیوې مې درته ایښې
جانانه که رادرومې، ګلدستې مې درته ایښې

وئیل مې د چرګو له څوکو هم نهٔ راستنېږم
وئیل ئې د بڼو تورې لشې مې درته ایښې

د غېب مالکه! تهٔ زما خلوص باندې خبر ئې
په لپو کښې د ښکلو رویې مې درته ایښې

یو زهٔ یم او یو تهٔ ئې، تنهائي توره کوټه ده
په مېز باندې د اوښکو څو پیالې مې درته ایښې

د غېرو په کوڅو مې پېرزو نهٔ دي ستا خاپونه
په لپو کښې مې پښې ږدوه، خورې مې درته ایښې

قرار قرار د خپل مخ بدرنګیانې پکښې ګوره
مهجوره! د شعرونو آئینې مې درته ایښې

غږېږم تل د خپل احساس د سرو اورونو په زور
ما کړې نهٔ ده شاعري څهٔ د لفظونو په زور

ستا د دروغو په وعدو مې ساه اخستې نهٔ ده
ما زغلولې د ژوند اس د امېدونو په زور

ما د محنت لمن په يو حال کښې هم پرېښې نوده
راغلم تر تا د خپلو ماتو وزرونو په زور

ستا د يادونو د منت رنها ته نهٔ يمه ناست
د زړهٔ دنيا مې ده روښانه د زخمونو په زور

يو موټي درد سره به څم جنت ته هسکه غاړه
شيخ به روان وي د نفلونو د لمونځونو په زور

ما رتنزي مهجور د ژوند ډېرې ازغنې لارې
دي صفا کړې، د صفا صفا سوچونو په زور

.....۱۲-۰۴-۲۰۱۳رتنزئ

پـه تـور د مینـې کلـه تـا او کلـه مـا ونیسـي
خدا‌ے دې پـه خپلـو ګناهونو دا مـلا ونیسـي

زړه کیسـه ده چې د ښـکلو نـه شـرمېږي ګـلان
تۀ هغه څوک ئې چې دې ګـل اووینـي، سـاه ونیسـي

یوازې تۀ نۀ ئې، د چم ښـکلي ټـول ګـران دي پـه مـا
"لـوبتې یـه مـې مـه" "پـه دې بـه مـې الله ونیسـي"

ستا د تـودې غېـږې ارمـان دې راتـه ودرېـږي
کبـر مـې ویلـے شـه، سـړه تبـه دې مـا ونیسـي

دا یـوه ادا دې مصـوره! چې تصـویر کـړے راتـه
روان وي ځـي، ناڅاپـه پښـه راتـه اشـنا ونیسـي

ستا د ځوانۍ لـه دنګ شجر مهجور لوګـے لـوګـے شـه
الله دې وکـړي چـې ګلونـه د وفـا ونیسـي

۱۷-۱۰-۲۲ بارکهان

ملګرو! شمار دي په سرونو د هغو سرونه
چې ئې قربان دي د وطن په سردرو سرونه

بیا مې ارمان لکه کونتره په هوا کښې شوري
د امېد باز مې ورته ونیول د غرو سرونه

هر یو مئین لاس کښې بېرغ وۀ د منصور نیولے
خو د نېزو په سر مې ولیدۀ یو څو سرونه

ستا د ښائست سره سره چې د قام ذکر نۀ وي
وبه ټومبو په خپلو ژبو د ازغو سرونه

د وحدانیت کړکۍ مو زړونو ته راخلاصه نۀ شوه
هسې مو مات کړل لویه خدایه! په سجدو سرونه

د هجر شپه څومره اوږده وه بېتهنے مهجوره!
پتنګان سترې شول، هم سترې د لمبو سرونه

هغې تـه اووايئ، ګلان دې پـه کمسـو کښـې نـهٔ ږدي
خوب مو دې نهٔ تښتوي، شمعې دې په شپو کښې نهٔ ږدي

مات دې شي، غوځ دې شي، ټوټې ټوټې دې ولې نهٔ شي
زما بچيـه !سر دې څوک د چا پـه پښـو کښـې نـهٔ ږدي

کـه وس مـو نـهٔ رسـي، عـاري خـو لـه احساسـه نـهٔ يـو
د وخت جابر دې زمـونږ وينـه پـه ډيـوو کښـې نـهٔ ږدي

مـا چې خپـل زړهٔ د زيړګلي پـه شـانې پـېش کـهٔ ورتـه
وېل ئې پاګله! دغـه ګـل څـوک پـه ګملـو کښـې نـهٔ ږدي

د نـوي دور پـرمختـګ پـه اوبـو يـوورو هـر څـهٔ
اوس تصويرونه د جانان څـوک پـه بټوو کښـې نـهٔ ږدي

زر ده چې هېـر بـه شي لـه مـونږه خپـل داسـتان د يـارۍ
مهجوره! څوک د يار شمېرې پـه حـافظو کښـې نـهٔ ږدي

...۲۰۱۷-۷-۲ نوشکي

مونږ ورونه وو، لکه د ورونو وخت تېرې مو نهٔ وه
په يو کالهٔ کښې اوسېدلو خو وروري مو نهٔ وه

نهٔ مو محسوس کهٔ اضطراب، نهٔ حرارت و لمس
څهٔ بې حسي وه، تهٔ به وائې که ياري مو نهٔ وه

د زړونو داؤ مو چې کاوهٔ، په شاه مو و نهٔ کتل
ګني په ژوند کښې چرته کړې جواري مو نهٔ وه

ما ورته وېل چې څومره ښکلے غزل ليکمه زهٔ
له طنز مسکے شوه، وېل ئې بله مزدوري مو نهٔ وه؟

مونږه د سرو او شنو جنډو تذکره نهٔ کوله
ځکه شامله په نصاب کښې شاعري مو نهٔ وه

مهجوره! خود به اوچېدل رانه ګلان د رشتو
چې د خلوص سره ئې کړې آبياري مو نهٔ وه

۱۸-۱-۱۷ بارکهان

ستا د تلو وخت کښې چې ضبط وکړم، په ژړا نۀ شمه
الله دې وکړي چې زۀ تاته پاتې را نۀ شمه

د چا آډيو او سندريز پېغام، لګيا يم اورم
ملګرو! پام راته کوئ چې په نڅا نۀ شمه

راځه! چې دواړه په شريکه اوس روژې اونيسو
ما قسم کړے وۀ چې زۀ به در پخلا نۀ شمه

حال به مې اووائي په وينو زرغون شوي بوټي
فنا به نۀ شمه که بېرته را پېدا نۀ شمه

هسې نۀ وخت مې د وصال په بېلتانۀ بدل شي
ستا په ليدو چې د خوښۍ نه په هوا نۀ شمه

حق دې مهجوره! چې مې فن په کاڼو وۀ وولي خلق
چې ټکے ټکے ځلا ونۀ کړم رڼا نۀ شمه

۱۷-۱۲-۲۸بارکهان

غاړه غړۍ چې د ګلچین سره صیاد رادرومي
ځکه د هرې یوې څانګې نه فریاد رادرومي

د زرو کان وې، د سکرو په سوداګرو خرڅ شوې
موندرۍ ځواني دې ما ته څۀ نا څۀ په یاد رادرومي

جوړ هغې زلفې پرانستلې دي په زېړ مازدیګر
دا چې په مشکو او په عطرو ککړ باد رادرومي

رقیبه! تۀ هم سیخ سړے ئې، زۀ هم روغ سړے یم
نو بیا څۀ وجه ده؟ چې مېنځ کښې مو تضاد رادرومي

مونږ ته پکار دي چې په مخه بوځو دغه تاریخ
نۀ شېرینۍ بله رادرومي، نۀ فرهاد رادرومي

مهجوره! تل مو دے په خپلو لپو ځان ځښولے
په خدا ے که مونږ ته خو نارې د زنده باد رادرومي

۲۰۱۳-۱۰-۰۹ رتنزئ

ښکلیه! ستا خندا مې د رغتیا سبب جوړیږي
راشه، ستا خبرې د دعا سبب جوړیږي

ښکلي او د ښکلو سپین مخونه دې خدا ے عام کړي
انشاءالله چې دا به د رڼا سبب جوړیږي

چرته چې په وینو سور لړلے تصویر وینم
ما ته د تکلیف او د ژړا سبب جوړیږي

دا وړې وړې او روزانه بې رُخي ګانې
ستا او ما په مېنځ کښې د خلا سبب جوړیږي

الوځي سرخي شاید د سرو سرو اننګیو
بره په آسمان کښې د ځلا سبب جوړیږي

ثله خلق نور رنګونه مړي په مخونو
ښکلے سوچ مهجوره! د ښکلا سبب جوړیږي

۱۸-۱۱-۲۱ بارکهان

خیال د هجران لکه خناس مې په سینې پروت دے
تۀ چرته لاړې؟ دا وسواس مې په سینې پروت دے

هغسې نۀ درزېږي اوس، زړۀ مې مړ شوے دے جوړ
د خپلو اوښکو ډک ګلاس مې په سینې پروت دے

دا بې حسي که زړېږدګي ده ، چې ونۀ بوږنېدم
د بنګړو ډک د چا سپین لاس مې په سینې پروت دے

سپینه څهره مې تکه زېړه پسې واوښتله
د جانان غم لکه آکاس مې په سینې پروت دے

یو نامعلومه اضطراب سره مخ شوے یمه
یو عجیبه خوف و هراس مې په سینې پروت دے

خپلو همزولو کښې به ولې مهجور ښکلے نۀ یم
د ښکلي یار ښکلے احساس مې په سینې پروت دے

بارکهان ۰۵-۰۳-۲۰۱۹...

لېک ویو پارک دے ،پسرلے دے، ماښامے دے
هر څۀ ډېر دي خو یو ستا پکښې کمے دے

قد زمـــــا د محبت ورنه اوچت دے
که هر څو په ونه دنګ رانه لالے دے
انکشاف په ما د ښار د جادو وشو
تېنګ نیولے مې منګولو کښې زړګے دے
په مارکیټ کښې مې یو بت ته غېږه ورکړه
کلیوال یم، ما وئیل چې ګڼي"دے"دے
څوک به وي؟ چې یو تصویر راسره واخلي
ګڼه ګوڼه ده، په منډه هر سړے دے
په اوږه مې دي تور لاس د رقیب ولید
لا تر اوسه مې په سترګو تروږمے دے

ستا د زړۀ اسلام آباد کښې به ځاے نۀ شي
ستا مهجور د تورو غرونو بېتهنے دے

۱۹-۰۹-۲۰۱۹بارکهان